مورچل

دیارلسم کال، پرلپسې ۱۳۳مه ګڼه، محرم الحرام ۱۴۴۱هـ ق، سپتمبر ۲۰۱۹م

دوه غبرګې پرمختیاوې، جګړه او دیپلوماسي!!

د هیواد قاطع اکثریت ټاکنې تحریم کړې

رسوایي انتخابات؛ شلاقی بر روی نظام تحمیلی

دسولې په هیلو چا خاورې واړولې؟!

- د تقلبي ټاکنو ګټونکی به څوک وي؟!
- تر ټاکنو وړاندې دوه احتماله، چې رښتیا شول...!!
- سعودي کې د تېلو په مرکزونو بریدونه دکومو اهدافو لپاره ؟

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال نهمه، پرلپسې ۱۳۳مه ګڼه،

محرم الحرام ۱۴۴۱هـق سپتمبر۲۰۱۹م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	تر ټاکنو وړاندې دوه احتماله، چې رښتيا شول!!	۲
۳	د تقلبي ټاکنو ګټونکی به څوک وي؟!	۴
۴	سعودي کې دتبلوپه مرکزونو بریدونه دکومو اهدافو	۶
۵	دسولې په هیلو چا خاورې واړولې؟!	۱۰
۶	رسوایی انتخابات ؛ شلاقی بر روی نظام تحمیلی	۱۲
۷	ټاکنیزه پروسه د اشغال غځولو یوه بله هڅه	۱۵
۸	دمتزلزلې اداري متزلزل دریځونه!!	۱۶
۹	دفتحو لړۍ زور اخیستی	۱۷
۱۰	د استعمار تر چتر لاندې د انتخاباتو جعلي پروسه	۱۹
۱۱	دهیواد قاطع اکثریت ټاکنې تحریم کړې	۲۱
۱۲	د انتخاب له پوښه لغړ او بربنډ د پردیو انتصاب	۲۶
۱۳	د اسلام غزوات او سرایا	۲۸
۱۴	د لور او زوی توپیر	۳۳
۱۵	د شهید ملا سراج الدین آخند ژوند او کارنامو ته کتنه	۳۵
۱۶	جنګي جنایتونه (سپټمبر)	۳۹
۱۷	د مورچل وړمې	۴۲
۱۹	د۲۰۱۹م کال د اګست مياشتې جهادي خبرونه	۴۴

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتـــنپلاوی

ایـــوب صـــافی	حکـــــمت
معیـن احـــمد	حافـظ سعـید
حســـــن زوی	موسی فرهـــاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

جګړه او ډیپلوماسي؛ دوه غبرګې پرمختیاوې

له امریکا سره دمذاکراتو وقفې د سولې ضد ذهنیتونو ته هم یوه لنډه وقفه ورکړه اوله هغه حالته راووتل چې نړۍ وه هر یویې ځان وژنه وکړي او لکه دوی یې چې تعبیر کاوه د مذاکراتو له بهیر سره یې حالت داسې و لکه په ریموټ کنترول بم چې ناست او د انفجار شېبې شماري، له دغې وقفې سره دوی له دغه حالته راووتل او یوځه ساه یې واخیسته.

دغو ذهنیتونو چې په سر کې یې کابل چارواکي دي هم مهاله داسې ګڼله چې دهیواد داشغال دخاتمې اوخپلواکۍ جذبه به نوره سړه شي اواسلامي امارت به دناهیلۍ ښکار شي، داخو رښتیاهم حقیقت دی چې دهر هیوادوال زړه په دې خپه و چې نه باید جګړې ته ترجیح ورکړل شوې وای، خو اسلامي امارت چې له دښمن سره یې په لوړ موقف مذکرات روان و، هیڅکله د ناهیلۍ ښکار نه شو او په ډېره ځیرکتیایې د بریالۍ ډیپلوماسي هڅې پیل کړې، ځینو مطرحو قوتونو اودسیمې هیوادونو ته یې سفرونه وکړل .

روسیې چین او دسیمې هیوادونوته داسلامي امارت د سیاسي دفتر دغړو سفرونه ډېر کامیاب او خورا مؤثر دي، وروستۍ نښې نښانې داسې ښیي چې د مذاکراتو د بهیر په درولو امریکایي لوری ډېر پښېمانه او په زیان کې دی،همدا لامل دی چې په داسې هڅو یې پیل کړی چې په پرده او عزت کې دخبرو په ټپه ولاړ حالت ببرته روان کړي .

له دې سره په څنګ کې دجګړې په ډګر کې داسلامي امارت لاسته راوړنې ورځ تربلې زیاتې شوې په تېره دهیواد په شمال، شمال ختیځ، ختیځ، جنوب ختیځو او جنوب لویدیځو محاذونو کې یې خورا پرمختګونه کړي، یواځې دسبتمبر په میاشت کې یې لسو ولسوالیوته سقوط ورکړی چې په دې لړ کې د تخار ولایت د چاه آب، خواجه غار، بهارک او درقد ولسوالۍ د فراه ولایت د بالابلوک، اناردرې ولسوالۍ د فاریاب په ولایت کې د قرمقل، قرغان د بغلان ولایت د ګذرګاه او د جوزجان ولایت د درزآب ولسوالۍ یادولی شو.

په نظامي ډګرکې بیا ترټولو مهمه دا چې په افغانستان کې یې د داعش دفتنې مرکزي پټنځایونه ټول له منځه یوړل اوله کونړ او ننګرهار څخه یې نور د دوی ټغر ورټول کړ .

په یو مهال جګړه اودیپلوماسي دومره حد ته رسول داسلامي امارت لوړ صلاحیتونه او وړتیاوې په ګوته کوي اوښیي چې په وړاندې یې په افغانستان کې نه جګړه او نه بله بهرنۍ سیاسي پروسه کامبدلای شي، داشغال خاتمه او بین الافغاني تفاهم زمونږ دجګړې او دیپلوماسۍ اساسي او محوري ټکي دي اوهمدا دافغانستان دقضیې دحل یواځینۍ نسخه بولو.

دافغانستان دټول ولس او هرې طبقې د زړه اواز همدا دی، اسلامي امارت دافغانستان د ولس دارادو تمثیل کوي او دهمدغې ولسي پشتوانې په مټ د دومره سترو دسیسو په وړاندې مقاومت ته دوام ورکوي .

تر ټاکنو وړاندې دوه احتماله، چې رښتیا شول....!!

موسی فرهاد

د امریکایی اشغال ترسیوري لاندې دا څلورم ځل ولسمشریزې ټاکنې وي چې د تیري شنبې په ورځ د ۱۳۹۸م کال د میزان پرشپږمه نیټه ترسره شوي.

دا پروسه وروسته ترهغه پیل شوه، چې تر وړاندې یې په میلیونونو ډالره دولتي بودیجه د دوو مشخصو نوماندانو له لوري پر درغلیزو برنامو او کمپاینونو ولګیدل.

تر انتخاباتو مخکې، نه یوازې کارپوهان بلکې مطلق اکثریت افغان ولس په دې متیقین و، چې دا وخت په هیواد کې د سولې اړتیا ده، باید سولې ته کار وشي، ټاکنو ته ترجیح ورکول د سولې د سبوتاژ کولو په مانا ده، صرف هغه خلک یې په حق کې دي چې د خپل ډالري او مصنوعي سیاسي ژوند بقا د افغان ولس په وینه تویولو کې ویني.

له همدې کبله اټکل دا وو چې نه به ولس په یاده جعلي پروسه کې ګډون وکړي او نه به ګډ ځواکونه د دې ټاکنو امنیت خوندي کړای شي.

بلخوا دا دواړه احتمالات د طالبانو له لوري په باوري ډول ولس ته وویل شول، او د ټاکنو طرفداران د کابل اداري چارواکي او د هغوی بهرني ملاتړي یې وننګول چې ستاسو فکر له ځمکنیو حقایقو سره په ټکر کې دی.

طالبانو پر ولس غږ وکړ چې د انتخاباتو په نوم دا جعلي پروسه دې تحریم کړي، نه دي ځانونه په خطر کې اچوي او نه دې د بهرنیانو دا ډول نمایشي جعلي پروسې ته په خپل ګډون سره مشروعیت ورکوي.

که څه هم په افغانستان کې میشتو بهرنیو ځواکونو او د کابل اداري عسکري چارواکو اعلانونه کول چې د ټاکنیزې پروسې د امنیت لپاره یې په لسګونو زره ځواکونه ځای پرځای کړي ترڅو د امنیتي پیښو مخنیوی وکړي.

خو له ټاکنو وروسته، د ټاکنو د پلویانو هرڅه سرچپه ثابت شول، هغه ځکه چې په ټاکنیزه پروسه کې د خلکو نه ګډون اوس تقریباً ټولې دنیا ته معلوم شو، هرڅوک په دې یقین لري چې ولس ټاکنې تحریم کړي. د ټاکنو د کمیسون له لوري د خپرو شویو احصائیو نه څرګندیږي چې له ټاکنو درې ورځې وروسته هم د هیواد له ځینو برخو د رایو صندوقونو کې رایې وشمیرل شوي، (چې دا په خپله یو غیرقانوني عمل دی، باید په همغه ورځ ټولې اچول شوې رایې شمیرل شوي وای). خو بیا هم له دې سره سره، ایله اوس په ټول هیواد کې د اچول شویو رایو شمېر ایله دوه میلونو شاوخوا ته ورسید.

مطلب دا چې د افغانستان د پنځه دیرش میلیونه، یعني له درې نیم سوه لکه وګړو نه فقط شل لکه کسانو رایه واچوله، چې هغه هم ظاهره خبره ده هغو حکومتي مامورینو به کارولي وي چې د کابل اداري عضویت لري او یا د هغوی د کورنۍ غړي وي. نو له درې نیم سوه لکه انسانانو نه صرف شل لکه کسانو راوتل او باقي درې سوه دیرش لکه بیرته په کور کښیناستل، دا ثابتوي چې دا ټاکني ۹۹٪سلنه ولس تحریم کړي، او په دې توګه یې دا پروسه غیرمشروع وګرځوله. په دې اوس تقریباً ټوله نړۍ اعتراف لري.

دویم اټکل دا و چې په هیواد کې امنیتي وضعیت د بهرنیانو او د هغوی د کورنیو ملاتړو د وس کار نه دی. د ګډو ځواکونو وینا وه چې د میلیونونو ډالرو په مصرفولو سره یې په هیواد کې څه باندې اتیا زره سرتیري په فوق العاده توګه د تیارسۍ په حالت کې کړي دي. ترڅو د طالبانو د بریدونو مخه ونیسي.

خو د انتخاباتو نه یوه ورځ وړاندې، د انتخاباتو په ورځ او یوه ورځ وروسته، یعني د دریو ورځو په جریان کې بې شمېره امنیتي پیښې رامنځ ته شوي، چې د طالبانو د احصائیو له مخې تنها د ټاکنو په ورځ تر ۵۰۰ زیات بریدونه یې پر دولتي ځواکونو کړي، چې په سلګونو عسکر پکې وژل شوي.

لومړی خو تقریباً له ټولو هغو ولایاتو نه، چیرې چې د انتخاباتي مرکز د جوړولو هڅه شوې؛ هلته برید ترسره شوی، او دا بریدونه ټولو رسنیو تائید کړي، مرګ ژوبله یې هم تائید شوي، د طالبانو په وینا څه باندې ۵۰۰ بریدونو کې یې نژدې څلورسوه عسکرو ته مرګ ژوبله اړولي ده، چې نیمایی برخه یې تقریباً سیمه ایزو خلکو پرخواله رسنیو او ځینو آزادو ژورنالیستانو هم تائید کړي، چې دا خورا غټ تلفات ګڼل کیږي.

دویم شی چې ډېر مهم دی؛ هغه د انتخاباتو په درې ورځني جریان کې، د ۵ ولسوالیو سقوط دی: ۱- تخار، چاه آب، خواجه غار، بهارک. ۲ - فاریاب، قرمقل. ۳- جوزجان، درزآب. له دې نه علاوه، بغلان کې یو ستر بیس، پکتیکا کې یوه لویه امنیتي قرارګاه، کندز، غزني، بلخ، فراه، زابل، کاپیسا او ځنو نورو سیمو کې ۱۸ پوستې په بشپړ ډول مجاهدینو له دولتي ځواکونو ولکه کړې.

په سلګونو دولتي عرادې هاموې ټانګونه، رینجري او نور ډول ډول وسایط د طالبانو په بریدونو کې له منځ تللي، ګڼ شمېر وسلې او مهمات هم طالبانو په غنیمت ترلاسه کړي.

دا پورته بیلګې د امنیتي پیښو وي چې د روانو ولسمشریزو ټولټاکنو په ورځ رامنځ ته شوي، دا ډول پیښې د خلکو هغه اټکل تائیدوي چې ترټاکنو وړاندې یې ګمان کیده او د ګډو ځواکونو هغه ادعا یې دروغ ثابته کړه چې ویل یې د میلیونونو ډالرو په خرچ کولو سره یې سلګونه زره امنیتي عسکر ځای پرځای کړي، او کولای شی امنیت کنټرول کړي.

نو دا چې هم ګڼ شمېر امنیتي پیښې رامنځ ته شوي، هم د امنیتي تهدید له ویري ځینې خلک رایه اچوني ته حاضر نشول، او په ټوله کې ولس پر ټاکنو د بې باورۍ له املې مطلق پریکون ورسره اعلان کړ. نو په دې توګه هغه دوه احتماله رښتیا ثابت شول چې تر وړاندې یې اټکل شوی وو.

د تقلبي ټاکنو ګټونکی به څوک وي؟!

شاهد (غزنیوال)

بالاخره د ټاکنو په نوم ناندرییزه پروسه د تلې د میاشتې په شپږمه نیټه د کابل او نورو ولایتونو په مرکزونو کې د امریکایي الوتکو تر سیوري لاندې تر سره شوله.

له اشرف غني پرته نورو ټولو کاندیدانو په یادې پروسې کې د خلګو ګډون پیکه او د هغې د تر سره کیدو بهیر یې له تقلبه ډک بللی دی.

اشرف غني د ټاکنیزې پروسې په وروستۍ مرحله کې د رسنیو په مخ کې په داسې ډول له خلګو، امنیتي ځواکونو او رسنیو څخه مننه وکړه لکه دا بهیر چې بالکل چې په یوه عادي فضا او له هیڅ ډول تقلب او فني مشکلاتو پرته تر سره شوی وي.

څوک به د ټاکنو ګټونکی وی؟

تر اوسه پورې نه ده مالومه چې د یادو ټاکنو ګټونکی به څوک وي؟

ځکه په یادو ټاکنو کې اصلي رول د اچول شویو رأیو نه؛ بلکې د هغو د مالي تنظیموونکو (امریکایانو) دی.

د ټاکنو په اصطلاح خپلواک کمیسیون وایي چې د ټاکنو د پایلو اعلان به د دوي لخوا د ترتیب شوي تقویم له مخې تر د ریو اونیو پورې وخت ونیسي.

د بین المللي ناظرینو، انتخاباتي کاندیدانو او رسنیو په خبره په ټاکنو کې د خلګو د مشارکت کچه تر حد زیاته ټیټه وه او د هغې لامل هم پر ټاکنیزې پروسې د ولس بې باورۍ وه، که څه هم چې مجاهدینو په خپلو اعلامیو کې ټاکنیزه پروسه ګواښلې، مواصلاتي لارې ټرلي او په ډیرو ولایتونو کې اتصالاتي شبکې ځنډولې وې، خو د بامیان په څیر ولایت کې چې مرکز یې په نسبي لحاظ د مجاهدینو له ګواښونو خوندي او اوسیدونکي یې تر یوه حده دولت پلوه دې هم په ټاکنو کې د خلګو د ګډون کچه ډیره ټیټه وه.

په ټاکنو کې د ولسي مشارکت کچه

تر ټاکنو وړاندې د ټاکنو کمیسیون د ټاکنیزې پروسې لپاره د (۹) ملیون کسانو د ثبت ادعاء کړې وه، خو د رسنیو، خپلې ټاکنیزو کاندیدانو، او عیني شاهدانو د څرګندونو له

مخې په هغو کې د ګډونکونکو شمیر تر یوه ملیون زیات نه و.

د تقلبي پروسې وروستۍ پایله.

د ټاکنو په نوم دغه تقلبي پروسه په افغانستان کې د امریکایي اشغالګرو د شرارت یوه بله کړۍ بلل کیږي چې غوښتل یې په هغې کې د ډیرو ولسي افغانانو ویني وبهیږي.

ځکه اشغالګرو فکر کاوه چې بیا به هم ځیني تیر ایستل شوي کسان په هغو ټاکنو کې ګډون کوي چې مجاهدینو یې د په نښه کیدو ګواښ کړی و چې په دې سره به حتما ټاکنیزو سایټونو ته تلونکي افغانان وژل کیږي.

همدا راز له یادې تقلبي پروسې څخه د امریکایانو بل هدف د افغانانو په منځ کې د تفرق او اختلاف رامنځته کول و چې بیا به یوه ډله د یوه کاندید او بله د بل کاندید په ملاتړ له یوه او بل سره په جنګ وي.

خو الحمد لله چې افغان ولس د خپل اسلامي بصیرت له مخې د اشغالګرو دغې دسیسې ته متوجه او هغه یې په عملي ډول تحریم کړه.

د ولس لخوا د تقلبي ټاکنو په عملي تحریم سره هغوي وکړای شول د دښمن دوې لویې دسیسې ناکامې کړي:

لومړی دسیسیه دا چې دا پروسه په مجموع کې د اشغال غزولو او پایښت لپاره یوه وسیله وه چې د امریکایي اجیرانو لخوا د خپلو اهدافو د پلي کولو لپاره په کار لویدلې وه.

دوهمه دسیسه د ولس ترمنځ د داخلي اختلافاتو رامنځته کول و او لکه تیر ځل چې د اشرف غني او عبدالله ترمنځ د اختلافاتو له وجې ټاکنیزې پایلې تر شپږو میاشتو پورې و ځنډیدې او په اخیر کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر جان کیري په وصایت د ملي یووالي په نوم سهامي حکومت جوړ شو چې د حکومت تر پایه یې د حکومت د سهیمو لوریو د اختلافاتو له وجې نه دولتي کابینه جوړه شوه او نه یې هم د ولسمشر، اجرائیه رئیس او مرستیالانو ترمنځ همغږي راغله.

دا ځل هم دا چې یاده پروسه نه د افغانانو په نوښت او نه هم د هغو په مصلحت پیل شوې وه، بلکې کټ مټ د تیر په څیر یوه امریکایي پروسه وه چې بیابه یې هم هواری او پایله د امریکا په مستقیمې مداخلې د هغوی د منافعو مطابق تر سره کیږي... پای.

سعودي کې د تېلو په مرکزونو بريدونه

د کومو اهدافو لپاره؟

حسن مومند

د روانې ستمبرمیاشت په۱۴ مې نېټې په سعودي عربستان کې دارامکو په نوم دتېلو تولیدونکی دنړۍ ترټولو ستر شرکت دتصفیې په دوه مرکزونو بې پیلوټه طیارو هوایې بریدونه وکړل چې له امله یې سعودي عربستان ته دومره درونده اقتصادي زیان اوښتی چې داحملې دسعودي دولت دخپل هېواد ۱۱ستمر ګڼلی.

دتېلو دتصفیې یو مرکز دسعودي عربستان دشرقي ولایت دمام په بقیق نومي سیمې کې دی چې دسعودي دپلازمېنې ریاض نه ۳۳۰ کیلومتره لرې پروت دی؛ دلته هره ورځ ۷ میلیونه بیلره تېل تصفیه کېږي؛ پردې مرکز ۱۳ کاله وړاندې په ۲۰۰۶ م کال کې دالقاعده له لورې دبرید هڅه شوې وه خود امنیتي ځواکونوپه هڅو شنډه شوې وه.

دتېلو دتصفیې پرمرکز چې پرې برید شوی دپلازمېنې ریاض نه ۱۶۰ کیلومتره لرې په خریص سیمې کې دی، ویل کېږي چې خریص کې دتېلو زېرمې ۲۰ ملیارده بیلرو ته رسېږي چې هره ورځ تر ۱۰ ملیونه راویستل کېږي او دخریص پدې مرکز کې تصفیه کېږي.

ددې بریدونو نه وروسته سمدستي په نړیوال بازار کې دتېلو په نرخونو کې ۱۰ سلنه زیاتوالی راغلو چې دا په تېرو ۴ میاشتو کې دتېلو دنرخونو ترټولو لوړه سطحه وه.

دیمن حوثیانو ددې بریدونو پړه پرغاړه اخستې او ترڅنګ یې د داسې نورو بریدونو درکه هم کړیده.

خو دامریکا ولسمشر ټرمپ ددې بریدونو پړه پرایران اچولې ده او ویلې یې دي چې بې پیلوټه الوتکې دایران نه راپورته شوې وې.

دبریدونو په تازه ورځوکې سعودي هم پرایران تور لګولی او ویلې یې دي چې په بریدونو کې دایران توغندي کارول شویدي، دسعودي عربستان دفوځ ویاند ترکي المالکي په پلازمېنې ریاض کې خبریالانو ته وویل چې دابتدائي څېړنو نه داسې معلومېږي چې برید کې دایران وسلې کارول شویدي.

خو دایران دباندیو چارو وزیر جواد ظریف ویلي دي چې مورږ جنګ نه غواړو خو کـه دسعودي عربستان یا امریکا له لورې پرمورږ جنګ مسلط کړای شو نو له خپل ځان نه به کلکه دفاع وکړو.

پدې کې شک نشته چې دبهرني یرغل په مقابل کې هرڅوک دخپل ځان نـه ددفاع حق لري خو سعودي عربستان دحوثیانو پرضد جنګ کې اخته دی او حوثیان دروسې او ایران ترتوغندو پورې ټولې وسلې له ایران او روسې نه اخلي اوس خو خبره تربې پیلوټه الوتکو رسېدلې ده.

حوثیانو وړاندې هم دسعودي پرخورا مهمو ځایونو دبریدونو هڅې کړیدي چې دسعودي له لورې هرځل ناکام شویدي خو دا ځل یې برید په تمامه معنی کامیاب و او څه یې چې غوښتل ترسره یې کړل.

دټبلو دتصفیې پدې دوه سترو مرکزونو دبریدونو نه پس که له یوې خوا امریکا دسعودي نه دخپل حمایت او ددې بریدونو په مقابل کې دهرډول جواب ورکولو تیارې ښکاره کړیدی نو بل لورته روسې هم سعودي ته دتوغندویې دفاعي نظام ورکولو وړاندیز کړیدی.

دروسې ولسمشر ولادي میرپوتین سعودي ته د ایس ۴۰۰ توغندویې دفاعي نظام دورکولو دوړاندیز پرمهال وویل چې ددې پرمختللي دفاعي نظام په مرسته به سعودي دبې پیلوټه الوتکو او دتوغندویې بریدونو نه په تمامو معنو مصئون شي؛ که سعودي غواړي نو مورږ یې مرستې ته تیار یو.

ښاغلي پوتین زیاته کړه چې ایران او ترکې کې هم مورږ دا دفاعي نظامونه فعال کړیدي؛ په ترکې کې به دراتلونکي ۲۰۲۰ م کال داپریل ترمیاشتې دا نظام کارپیل کړي.

دروسې او امریکا دې خبرو ته چې وکتل شي نو داخبره پرځای ده چې نړیوال زبرځواکونه په سیمو کې دخپل نفوذ دزیاتوالي او دخپلو وسلو دخرڅلاو لپاره د هېوادونه ترمنځ دجنګ دحالت راپیدا کولو او بیا دطول ورکولو لپاره ډېرې هڅې کوي او پرجانیبینو دوسلو دخرڅلاو له لارې ښې ډېرې پیسې لاسته راوړي.

سعودي عربستان لا دمخه له امریکا نه دپیټریاټ په نوم توغندویې دفاعي نظام اخستی خو دا نظام دحوثیانو دبریدونو دمخنیوي په لار کې پاتې راغلی دی چې له دې املـه روسې دامریکا دا نظام ناکام نظام ګڼلی دی.

خو د روسې ایس ۴۰۰ دفاعي نظام په ټولې نړۍ کې د ترټولو پرمختللی دفاعي نظام په توګه شهرت لري چې ایران لا له وړاندې دا نظام دروسې نه اخیستی دی.

په سعودي عربستان کې دامریکا دفوځي اډواودپرمختللي پیټریاټ دفاعي نظام په شتون کې چې پرسعودي دومره ستر بریدونه کېږي نو دا په ښکاره دامریکا ناکامي او په حقیقت کې په داسې پېښو کې دامریکا دلاس لرلو ډېر روښانه دلیل دی.

دعراق او ایران جنګ کې هم دې دواړو هېوادونو دامریکا او روسې وسلې کارولې؛ امریکا او روسې دوئ ته دا وسلې وړیا نه ورکولې بلکې ایران او عراق به ددې وسلو درلاسه کولو لپاره دخپلو بودیجو ډېره لویه برخه ځانګړې کوله.

اسرائـيلي دولـت ويـلي دي چـې دسـعودي عربستان دتېلو دتصفيې پردوه مرکزونو دبريد لپاره دعراق خـاوره کـارول شـويده؛ عـراق ملېشـو دايـران دبـې پېلوټـه الـوتکې لـه لارې پـردې دوه مرکزونـو بريدونه کړيدي خو دعـراق لـومړي وزيـر دا تـور رد کړی او ويلې يـې دي چـې دعـراق خـاوره بـه دهـيڅ کوم ګاونډي پرضد ونه کارول شي اونـه هـم تراوسـه کارول شويده.

چـين د ايـران او امريکـا دواړو نـه د صـبر او تحمل کولو غوښتنه کړيـده؛ د چـين د بانـديو چـارو وزارت ويلي دي چې له شواهدو پرته پر چا تور لګول ناسمه خبره ده او دچين دولت داسې ټول اقـدامات غندي چې په سيمې کـې دتـاو تريخـوالي دزيـاتوالي لامل کېږي.

دروسې ولسمشر پرايران لګول شوي تورونـه رد کړيـدي او دولسمشر ـ ويانـد ويـلي دي چـې دايـران پرضد دهر ډول ځواک کارول ورته د منلو وړ ندي.

دملګرو ملتونو دشر منـشي ويانـد هـم ددواړو اړ خونو نه دصبر او تحمل غوښتنه کړيده.

که په دقـت وکتـل شي نـو وينـو چـې اوس پـه نـړۍ کـې د مخـامخ جنګونـو کولـو؛ ديـو بـل پرضـد دوسلو کارولو او بمونو راغور ځولو په ځـای ددښـمن هېـواد اقتصـاد تـه دتـاوان رسـولو رجحـان مـخ پـه زياتېـدو دی. اوس دســعودي عربســتان او ايــران ستونزه د نړۍ يوه ستره موضوع ګرځېدلې ده.

ددواړو هېوادونو ترمنځ لا تبليغاتي جنګ روان دی او ديپلومـاتيکي اړيکـې يـې سره پـرې شـويدي؛ مخامخ جنګ دواړو کې يو هېواد هم نـه غـواړي خـو که دې ته ورته بلـه حملـه وشـوه او يـا هـم پلازمېنـه رياض تربريد لاندې راغلو او مسئوليت يـې حوثيـانو ومانه نو بيا شـايد چـې حـالات ډېـر خـراب او دواړه هېوادونـه سره مخـامخ پـه جنـګ راښـکېل شي چـې پدې سره به دواړه هېوادونه تباه؛ ټول منځنی ختيځ به دجنګ په ډګر بدل شي او سـلامي نـړۍ بـه دبـې سارې ستر تاوان سره مخامخ شي.

ديمن دجنـګ دا پـنځم کـال دی؛ حوثيـانو تـه پيسې؛ وسلې او نور ټول جنګي وسايل دايران دولـت ورکـوي؛ سـږ کـال ديمـن جنـګ دسـعودي ترپولـو وروسېد؛ اوس حوثيانو دسـعودي سرحـدي ښـارونه ترخپلو بريـدونو لانـدې راوسـتي دي او غـواړي چـې ترپلازمېنې ريـاض او دعربـو ترمتحـده ايـالاتو خپـل بريدونه وروغزوي چې دا به په بـل اور دتېلـو پاشـلو معنی ولري.

دسعودي او دسعودي داتحاديانو هـدف يمـن دحوثيـانو دقبضـې نـه سـاتل دي چـې پـه دې کـې سـعودي کاميـاب دی خـو دې هـدف تـه درسـېدلو لپـاره سـعودي ډېـر سـتر تاوانونـه وزغمـل او د يمـن ولس ته هم ډېـر زيـات سـتر تاوانونـه وروروسـېدل او دډېرې زياتې دربدرۍ سره مخامخ شول.

دحملو دځای نه يمن کابو ۱۰۰۰ کيلومتره لـرې پروت دی عراق ورته په ۵ سوه کيلومتره کې پـروت دی او ايـران تـرې ايلـه ۳ سـوه کيلـومتره لـرې دی؛ دزياتره پوهانو نظر دا دی چې دابريدونـه ديمـن لـه خاورې ندي شوي؛ شايد دعراق له خاورې شـوي وي ځکه چې په عراق کې تـش پـه نامـه دولـت دی نـور واک ټول دامريکا په لاس کې دی.

سره لـه دې چـې دسـعودي دفـاع وزارت پـه يـو مطبوعاتي کانفرانس کې پدې برېد کې دايـران دوسـلو

دکارول کېدو شواهد وړاندې کړل خو داسې نه ښکاري چې ګینې ایران به دخپلې خاورې نه پرسعودي عربستان دا بریدونه کړي وي ځکه چې دې بریدونو که څه هم سعودي عربستان ته ستر زیانونه وروړول چې داد ایران لپاره دوخوښۍ خبره ده خو پرایران ددې بریدونودثبوت په صورت کې ایران دنړیوالو دسخت غبرګون سره مخامخ کېدای شي.

لنډه داچې دا بریدونه ډېر ستر بریدونه وو؛ دنړۍ له سترو زبرځواکونو پرته بل یو هېواد هم ددې بریدونو جرأت نه شي کولای اونه یې هم دبدو عواقبو زغم لرلای شي.

که په غور وکتل شي نو دا دامریکا اواسرائیلو پرته دبل هیچا عمل نه شي کېدای.

امریکا یا اسرائیلو به دا بریدونه پخپله کړي وي اوکه دایران، حوثیانو یاحزب الله په څېر نور خلک به ددې کار لپاره استخدام شوي وي؟

دا دواړه احتمالونه شته خودې کې شک نشته چې تر شا یې خامخا داسرائیلو او دامریکا لاس دی.

او په همدې یوې حملې امریکا ګڼ اهداف ترلاسه کړل؛ امریکا به په خلیج کې خپل فوځي حضورنور هم پیاوړی کړي لکه چې دامریکا داعلانونو نه همدا معلومېږي؛ همدا راز یې په عربي نړۍ کې دایران مصنوعي وېره هم نوره پسې زیاته کړه چې ددې حملې نه پس دټرمپ داخبره چې امریکا دسعودي دساتنې ټېکه نده اخستې اوبیا ورپسې دمحمد بن سلمان له لورې دامریکا په فوځي اتحاد کې د داخلېدلو اعلان دهمدې خبرې واضح ثبوت دی اوس به بیا متحده عرب امارات؛ سعودي عربستان اوکویت دامریکانه دوسلواخستلو نوي قراردادونه وکړي اوله دې لارې به امریکا داشتمن هېوادونه ښه لوټ کړي.

دایران داتومي پروګرام په سر د اوباما دوخت رامنځته شوی ټرون ټرمپ واک ته درسېدلو نه پس لغوه کړ نو په نړۍ کې یې امریکا بدنامه کړه؛ دامریکا اروپایې ملګري دامریکانه خوابدي شول او ددې ټرون دلغوه کولونه امریکا کوم هدف هم ترلاسه نکړ چې دا اوس دامریکا لپاره دډېرې سترې اندېښنې وړ خبره ګرځېدلی ده.

په دې حملې دایران دبدنامولو او په نتیجه کې یې داقتصادي بندېزونو له لارې امریکا پر ایران فشارونه راواردول غواړي ترڅو دخپل اتومي پروګرام نه لاس په سر شي او دامریکا سره یو داسې ټرون ته تیار شي چې امریکا یې غواړي.

داسې ښکاري چې دسعودي حاکمان هم اوس پدې ښه پوه شول چې د امریکا دوستي بې اعتباره او دسعودي نه ددفاع خبرې یې دروغ دي نو ځکه یې دایران پرضد خپله لهجه هغومره سخته ونه کاروله څومره چې دا بریدونه ستر وو اوترڅنګ یې دسعودي اوایران ترمنځ دعراق دلومړي وزیر دمنځګړیتوب وړاندیز ته هم مثبت ځواب وویلو چې دا ډېر ښه پرمختګ دی خو مهمه دا ده چې باید اسلامي نړۍ لږه راویښه شي اودعراق په څېر دکمزوري نه بلکې دقوي هېوادونو با اثره مشران منځګړیتوب وکړي او ددواړو هېوادونو ترمنځ دټولو مشکلاتو دحل لپاره ریښتونی کوښښ وکړي ترڅو سیمه دلویې ورانۍ نه بچ شي او دبهرنودلاسوهنو اومداخلو مخه ونیول شي.

د سولې په هیلو چا خاوړې واړولې؟!

لیکوال: م. جمیل باور

نـژدې دوه لسـیزې وړانـدې د امریکـا پـه تجـارتي مراکـزو تـر مرمـوزو حملـو وروسـته امریکایانو تور پورې کړ، چې ګـواکې دا حملې د افغانستان په خـاوره کـې پـلان شـوې وې او د غـچ اخیسـتلو ګواښـونه یـې کـول، د افغانسـتان اسـلامي امارت له لومړۍ ورځې د انساني تلفاتو د مخنیوي، ملي ګټو او ټولګټو تأسیساتو د خوندیتوب په پار د دې موضوع په سیاسي حل ټینګار کاوه.

امریکایـانو یـاد بریدونـه پلمـه کـړل او پـر افغانستان یې د ټولو نړیوالـو قوانینـو خـلاف یرغـل وکړ، یو مشروع او ځواکمن نظـام یـې نسـکور کـړ. اسلامي امارت د دې ته اړ کړای شو چې د هیـواد د ازادۍ او دفاع لپـاره مشـروع جهـاد او مقاومـت تـه مخه کړي، چې دا دی تر ډېره بریده یې بېرته هیواد ته ازادي اعاده کړې ده.

د ازادۍ د بېرتـه اخیسـتلو لپـاره لـه وسـلوالې مبارزې سره سره، اسلامي امارت یو ربښتیني سیاسي ډیالوک ته هم ژمن دی، او په هم دې موخـه یـې د قطر هیواد په پلازمینه دوحه کې یو سیاسي دفتر هم پرانیسـتی دی، چـې د افغانسـتان د روانـې تحمـیلي جګړې د پای ته رسولو لپاره لـه ټولـو جهتونـو سره خپل نظر او پالیسي شریکه کړي.

له څو کلونو پرلپسې هڅو وروسـته د اسـلامي امارت سیاسي سفیران وتوانېدل چې د ځینـو سـترو قدرتونو او د سیمې د هیوادونو اعتماد تر لاسه کړي او دې تـه یـې وهڅـوي چـې د افغانسـتان د روان بحران د پای ته رسولو لپاره د اسلامي امارت جـامع طرحه او رڼه پالیسي تائید کړي.

د همدې هڅو پـه لړ کـې د اسـلامي امـارت سیاسي استازو له تېر یو کـال راهیسـي- د امریکـایي مرکچیانو سره نهه پراوه بریالي مذاکرات لـرل، چـې

په نتیجه کې یې د جوړجاړي یو ې توافقنامې ته سره ورسېدل، چې له عملي کیدو وروسته به یې امریکایان په افغانستان کې هیڅ ډول پوځي شتون نه لري، او په بدل کې به یې اسلامي امارت دا تضمین ورکوي چې د افغانستان له خاورې به په دوی حمله نه کیږي.

هیله وه چې د دې توافقنامې د لاسلیک لپاره رسمي مراسم جوړ شي او د افغانستان اوږد او خونړي ناورین ته د پای ټکی کیښودل شي؛ خو د سولې او امن دښمنانو یو ځل بیا خپلې بد شکله څېرې بربنډې کړې، د امریکا اولسمشر ډونالډ ټرمپ د خپل ټوئیټر له لارې دا پروسه و ځنډوله، او خپل استازي یې واشنګټن ته وروغوښتل.

که څه هم په ښکاره ډونالډ ټرمپ د مذاکراتو د ځنډ لامل د اسلامي امارت له لوري د دوی د یو سرتیري وژل وښودل؛ خو دا خبره له عقل او منطق څخه ډېره لرې وه، ځکه چې نه خو تر اوسه توافقنامه لاسلیک شوې وه او نه هم امریکایانو خپلې حملې درولې وې، چې اسلامي امارت یې په اساس حملې بندې کړې وای.

د سولې د پروسې د ځنډ اصلي لامل په سیاسي ډګر کې د دوی ماته، د دوی له لوري سولې ته نه ژمنتیا او په کور د ننه د ځینو هغو قوتونو فشار و چې په جګړه کې خپلې ګټې وینې.

کابل رژیم چې سوله کې یې د خپل واک پایښت په خطر کې لیده، او له پیله یې د دې خبرو مخالفت کاوه، د ټرمپ د دې پرېکړې تود هرکلی وکړ او یو ځل بیا یې د افغان اولس د هیلو غوټې ماتې کړې؛ خو اسلامي امارت چې د هیواد پرمختګ او هوساینې ته ژمنتیا لري، یو ځل بیا په پوره صراحت سره خپله امن غوښتونکې پالیسي څرګنده کړه، چې د هیواد تر بشپړې ازادۍ او ارامتیا پورې به په نظامي او سیاسي برخو کې هیڅ راز هڅې ونه سپموي.

رسوایی انتخابات؛ شلاقی بر روی نظام تحمیلی

حبیبی سمنگانی

امریکـایی هـا و دسـت نشـاندهان آن هـا دموکراسی و لـوازم آن، از جملـه حـق رای دهـی را بهترین دستآورد خـود در افغانسـتان مـی داننـد. آن ها با تبلیغات ملیاردها دالری و برنامـه هـای اسـتعماری شـان چنـان وانمـود مـی کردنـد گویـا دموکراسـی درمـان همـه دردهـای افغـان هـا و انتخابات بهـترین گزینـه ای بـرای تعیـین زعـیم و سرنوشت افغان ها بدست خود شان اسـت، گویـا افغـان هـا نبایـد ایـن کیمیـای فـلاح را از دسـت بدهند. اما واقعیت مسلّم امـروزی بنـا بـر تجربـه های تلخ و تکـراری هـژده سـال اخیـر اینسـت کـه افغان ها و دموکراسی از یکدیگر بـه داد و فریـاد آمده اند.

این تنها طالبان نبودنـد کـه بـا تکـرار چنـین پروسـه هـای نمایشـی و جعلـی در حسـاس تـرین اوضاع کشور مخالفت نشان دادنـد، بلکـه بیشـتر چهره هایی شناخته شده که در گذشته ها نقـش های مهم و محوری در اداره کابـل داشـته انـد بـه صراحت هشدار می دادند که تکـرار تجربـه هـای ناکام انتخابات، تشنج و بحران تـازه یـی را بـه بـار خواهد آورد. اما این هم از بـدبختی و سـیه روزی اداره کابل و سرپرستان امریکایی شان اسـت کـه هرگز از ناکامی های شان پندی نگرفته انـد و بـار دیگر خود را رسوا و روسیاه ساختند.

اکنـون کـه دو هفتـه از برگـزاری پروسـه نمایشی انتخابات می گذرد، اتفاق بـر اینسـت کـه ایـن پروسـه بـه گونـه بـی سـابقه ناکـام شـده و طالبان، سیاستمداران کشور، رسانه های داخلی و بـین المللـی، نهادهـای نـاظر و حتـی خـود برگـزار کننـده گـان آن، دلائـل و عوامـل زیـادی را بـرای ناکـامی تـاریخی ایـن پروسـه ابـراز داشـته انـد. طالبان ناکامی ایـن پروسـه اسـتعماری را کامیـابی خود دانستند و با نشر اعلامیه ای رسـما از افغـان ها ابراز سپاس نمودند که به صدای غمخوارانـه و صـلح خواهانـه ایشـان ارج گذاشـتند و توطئـه انتخابات را بـه شـمول پایتخـت در سراسر کشـور تحریم نمودند.

از چندی به اینسو دو دیدگاه کاملا مغایر در قبال برگزاری چهارمین انتخابات ریاست جمهوری در کشور وجود داشت. طالبان و دیگر جهت های صلح خواه برگزاری انتخابات در همچو شرایط نا مناسب را توطئه ای در برابر پروسه صلح و سعی برای تداوم اشغال و جنگ می خواندند، اما دلیل حامیان برگزاری انتخابات این بود که روند دموکراتیک به هر قیمتی که باشد باید دوام یابد، اشرف غنی و سخنگویان و دار و دسته او به صراحت می گفتند: صلحی که در بدل دموکراسی تمام شود، قابل پذیرش نیست. امریکا نیز در روزهای اخیر به گونه مکرر تاکید کرد که انتخابات در افغانستان حتما برگزار می شود. گویا کامیابی و ناکامی انتخابات در حقیقت رفرندم/همه پرسی برای مشروعیت و عدم مشروعیت این نظام تحمیلی در افغانستان بود.

انتخابات نام نهاد ریاست جمهوری به تاریخ ۶ میزان برگزار شد، اما در نیمه های همان روز دانسته شد که امریکایی ها و دست نشاندهان شان درین قمار خود با رسوایی بزرگی مواجه شده اند. چنانچه هارون نجفی زاده، ژورنالست مشهور و از حامیان سرسخت برگزاری انتخابات پس از چاشت روز انتخابات تویت کرد که: «میزان مشارکت مردم در مقایسه به انتخابات ۲۰۱۴ به شدت پایین است، مراکز رای دهی در کابل خالی است».

اگر از یکسو طالبان توانستند با کمپاین مؤثر تبلیغاتی و اجرای عملیات های موفق نظامی از راه اندازی این پروسه نمایشی در بخش های زیادی کشور جلوگیری نمایند، از سوی دیگر این خود افغان ها بودند که در مصئون ترین نقاط کشور نیز از رفتن به مراکز رای دهی خودداری نمودند و شائبه ای باقی نماند که افغان ها بر انتخابات تقلبی و دموکراسی ساختگی که امریکایی ها و رژیم فاسد بزرگ ترین دستآورد خود می دانند، علنا نفرین فرستادند. امروز هر افغان به این باور است که اینگونه پروسه های استعماری عامل بزرگ بحران کشور و مشکلات آن هاست.

دموکراسی باید از افغان ها شکوه و گله ای نداشته باشد. زیرا برای افغان ها باغ های سبز و رویایی نشان داده شده بود که دموکراسی با مرور زمان تحولات مثبت و سازنده ای را در جامعه افغانی به ارمغان می آورد. مدعای دموکراتان این بود که اصل مهم در دموکراسی «مردم سالاری» است و افغان ها دیگر زیردست و مورد شکنجه زورگویان و تفنگسالاران قرار نمی گیرند، اما افغان ها دیدند که اوضاع روز بروز وخیم تر شد و آن چهره های خونخوار و مستبدی که از هیبت طالبان در کوه ها و مغاره ها جا نداشتند و به خارج از کشور فرار کرده بودند، زمام کشور بدست آن ها داده شد و دوباره بر افغان ها مسلط کرده شدند.

دموکراسی همواره لاف از مردم سالاری زده است، اما واقعیت مبرهن اینست که مردم عادی کشور درین دو دهه هیچ جایگاهی در عرصه قدرت سیاسی کشور نداشته اند. ریاست جمهوری بجای خود، پارلمان هم بجای خود، امروز حتی اگر یک جوان تحصیل کرده اما بی پول و ثروت خود را برای شورای ولایتی هم نامزد بکند، آماج طنز و تمسخر قرار می گیرد. زیرا ظاهر و باهر است که ساختار انتخابات ها به گونه

تشکیل یافته است که باید برای رسیدن به شورای ولایتی هم هزارها دالر خرج نمود و یا هم باید با کدام سازمان استخباراتی و یا سفارتخانه کشورهای خارجی روابط داشت. رحمت الله نبیل، نامزد انتخابات کنونی ریاست جمهوری ادعا دارد که یکی از تیم های کاندید در کمپاین های خود ۱۷۵ ملیون دالر (معادل چهارده ملیارد افغانی) خرج کرده است. همچنان در انتخابات پارلمانی سال گذشته دیده شد که چطور بسیاری نمایندگان کنونی پارلمان با پرداخت چند صد هزار دالر به کمیسیون انتخابات به پارلمان راه یافتند.

امروز حامیان تیم اشرف غنی به اصلاح «دولت ساز» با کمال چشم سفیدی افتخار دارند که رهبر ما تفنگسالار نیست و به تفنگسالاری و زورگویی نقطه پایان می گذارد. اما واقعیت اینست که اگر در دوره گذشته، جنرال دوستم و کریم خلیلی نقش محوری و کلیدی در تیم او داشت، این بار نیز صدها تفنگسالارانی بودند که در جریان کمپاین ها در طرف دست راست و چپ او دیده می شدند و مسئولیت پیشبرد کمپاین او را بدوش داشتند. نه تنها آنکسی که چند روز پیش وزیر بر حال کابینه او را در داخل مسجد ارگ لت و کوب کرد، بلکه از پایتخت کشور تا هر ولایتی که بررسی شود، بدنام ترین تفنگسالاران و غاصبان حیثیت مرکزی در تیم او دارند. از اینکه جنرال عبدالمالک در زون شمال کشور و اختر ابراهیم خیل (مشهور به اختر لُوچک) در ولایت بزرگ بلخ سرکردگی تیم او را بدوش دارند، قیاس بکنیم که تیم دولت ساز مشهور به تابوت ساز دیگر چه گلهای را آب داده است. بدون شک، انتخابات کنونی چنان منظره ها و نمونه های از مردم سالاری را به نمایش گذاشت که دل مردم را از مردم سالاری سیاه کرد.

دموکراسی افغانی باید گلایه از سرپرستان خود - امریکایی ها - داشته باشد که این بار حیثیت نسبی آن را هم از بین بردند و ثابت ساختند که دموکراسی و انتخابات در افغانستان امروزی، جز ابزاری برای تفرقه افگنی میان افغان ها و تداوم اشغال و جنگ چیزی دیگری نیست. امروز اگر از میان بیش از ۳۵ ملیون جمعیت کشور تنها دو ملیون نفر رای داده اند (که نصف آن هم آرای خیالی و تقلبی است) روشن می سازد که اکثریت قاطع افغان ها به این باور رسیده اند که ما هیچ نقشی در انتخاب رئیس جمهور کشور نداریم. این امریکا است که رئیس اداره کابل و حتی تمام کابینه و دارد و دسته آن را تعیین می کند. بلی، بار گذشته جان کیری و این بار قرار است مایک پمپیو این خدمت را انجام بدهد، حتی آن یک ملیون نفری که واقعا رای داده اند، نیز به این باور هستند. اگر باور ندارید، بروید بپرسید.

احمد مختار

د اشغال غځولو یوه بله هڅه

د ټرمپ له لوري له اسلامي امارت سره د مذاکراتو تر ځنډولو وړاندې ځینې شنونکي په دې نظر وو چې امریکایان له اسلامي امارت سره د مذاکراتو ترڅنګ د کابل رژیم په وسیله تاکنیزه پروسه هم د یوه پلان په توګه عملي کوي.

ځکه خو هغه مهال حتی خپله د ګډ حکومت د دوو سهیمو لوریو او همدا شان تاکنیزو کاندیدانو ترمنځ د تاکنو تر سره کولو پر سر اختلاف و.

له اشرف غني پرته د تاکنو ډیری کاندیدان په دې نظر وو چې د هیواد اوسني امنیتي او سیاسي شرائط په هیڅ صورت تاکنو ته نه دي مهیأ، لهذا باید د تاکنو پرځای له اسلامي امارت سره د مذاکراتو پروسې دوام ته ترجیح ورکړل شي او د هغې له لارې دې لومړی په هیواد کې جګړه متوقفه او وروسته دې بیا ورکې د نظام پر جوړلو کار پیل شي.

خو څرنګه چې دا کار د کابل رژیم د حتمي شندل کیدو په معنی و نو د اشرف غني کونښې یې دا وه چې له هرې ممکنې لارې وي، باید مذاکراتي پروسه سبوتاژ او د خپلې فاسدې واکمنۍ د دوام لپاره د تاکنو په نوم جګړه ییزه پروسه عملي کړي. په کوم شکل چې کابل رژیم تاکنیزه پروسه عملي کول غوښتل او عملا یې عملي کړه، هغه په ټوله معنی د جګړې د دوام او تشدید لپاره یوه ښکاره هڅه ده؛ نه د افغانانو د مصلحت لپاره د یوه سوله ییز مستحکم نظام جوړولو پروسه.

په افغانستان کې د جګړې د دوام له فکر سره د پنټاګان او سي آی، اي امریکایي جګړه خوښې جنرالان هم همنظره و، ځکه یې ټرمپ هم تحریک کړ چې له اسلامي امارت سره د مذاکراتي بهیر د هوکړې له لاسلیکولو څخه پر شاسي.

اوس به څه کیږي؟!

اوس چې د سوله ییز مذاکراتي بهیر د روان ساتلو پر ځای هغه متوقف، او په عوض کې یې د تاکنو په نوم جنګي پروسه عملي شوه، د هغې لومړنۍ پایله به خپله د دغې پروسې د ګډنوالو ترمنځ شخړې او نانداري وي چې بیا به یې اخیري حل د امریکا د سفارت په ښکاره مداخلې سره وي.

ځکه د تاکنیزې پروسې ټول ګډونوال هغه فاسد عناصر دي چې د سیاسي غورځو پرځو ټول غرض یې د شخصي منافعو تر لاسه کول دی او که هغه ورته میسر نه شي نو به یې حتما څوک بیرته غرونو ته د تګ ګواښونه کوي، او څوک به د نظام په منځ کې شخړو او ناندریو تیزولو ته زور ورکړي.

د جګړې دوام د غني او امریکا مشترک هدف

اصلا اشرف غني او د هغه فاسدرژیم د اشغال محصول او دوام یې هم د اشغال غزولو وسیله ده.

لهذا امریکا غواړي د تاکنیزې پروسې په وسیله په جعل او تزویر سره د غني په څیر بې ضمیر او بې مروته ګوډاګیان د همدې جعلي پروسې له لارې پر افغان ولس تحمیل او په دې سره په افغانستان کې جګړې ته دوام ورکړي.

د جګړې دوام که څه هم چې امریکایانو ته زیامن دی، خو د امریکا په نسبت افغانان ډیر ترې متضرر کیږي، ځکه خو هغوی کونښې کوي دلته ټول هغه خیارات په لاره واچوي چې هغه د دوي جنګي منافع تضمین کړي.

د متزلزلې اداري متزلزل دريځونه!!

مبصر م

سيمه ايزو هيوادونو ته د اسلامي آمارت د سفرونو په تداوم تېره پنجشنبه د اکتوبر په دوهمه د اسلامي امارت د سياسي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشري يو دولس کسيز هيئت پاکستان ته په رسمي بلنه سفر وکړ.

ياد هيئت د پاکستان د بهرنيو چارو د وزير سره د سولې، دواړو هيوادونو د دوه اړخيزو اړيکو، پاکستان کې د ميشتو افغان مهاجرينو او افغان تاجرانو ته د اسانتياوو د رامنځته کيدو په موضوعاتو خبرې وکړې.

اسلامي امارت د نړۍ او د سيمې هيوادونو سره د متقابل احترام په چوکاټ کې د دوستانه اړيکو غوښتونکی دی او وخت په وخت يې استازي سفرونه لري چې دپاکستان سفر هم دهماغو سفرونو يوه برخه ده.

د کابل اداره چې په نظامي او سياسي ډګرونو کې يې د اسلامي امارت په وړاندې ماته خوړلې او په يو شرمونکي او متزلزل حالت کې قرار لري، هر وخت يې د يادو سفرونو د کم رنګه کولو ناکامې هڅې کړې خو بريالي شوي نه دي.

پاکستان ته يې د اسلامي امارت د استازو د سفر په اړه هم متزلزل دريځ خپل کړ، د کابل اداري د مشر اشرف غني ويانډ صديق صديقي پاکستان ته په دې سفر نيوکه وکړه او د پاکستاني چارواکو لخوا يې د اسلامي امارت د استازو تود هرکلی د ديپلوماتيکو اصولو ضد کړنه وبلله.

خو د بهرنيو چارو د وزارت ويانډ صبغت الله احمدي بيا ددې سفر هرکلی وکړ او امريکايانو سره خبرو د بيا پيل هيله يې وښوده،

چې ډير ژر يې د ارګ لخوا خبرې رد او د نوموړي شخصي نظر يې ياد کړ.

پورته دوه متفاوت نظرونه ښکاره کوي چې د کابل اداره کې څومره ژور اختلاف دی، چې دوی د يو سفر په هکله دومره متفاوت نظرونه لري؛ نو بيا څنګه کولای شي چې له اسلامي امارت سره د خبرو په هدف د يو قوي او باصلاحيته مذاکراتي ټيم په جوړولو وتوانيږي.

د پاکستان د سفر اړوند د ارګ او بهرنيو چارو وزارت اختلاف د اسلامي امارت هغې داعيې ته لا قوت وربښي چې تل يې ويلي د کابل اداره د خبرو صلاحيت نه لري، لومړی بايد له امريکايانو سره ستونزه حل او بيا له بيلابيلو افغان جهتونو سره خبرې وشي.

د فتحو لړۍ زوړ اخیستی

حبیب مجاهد

د الفتح عملیاتو په لړ کې د بیلابیلو جهادي فعالیتونو، فدایي حملو، په ښارونو کې د هدفي، چریکي او نفوذي بریدونو او روزمره مختلف النوع عملیاتو نه علاوه د بریاوو یوه مهمه برخه د ولسوالیو مسلسل فتوحات دي. دا ځل د ولسوالیو فتوحات د کمیت او کیفیت له اړخه په دومره کچه دي چې پخوا یې ساری نه و لیدل شوی.

د بیلګې په توګه که یوازې همدا تېره د سېتمبر میاشتې ته توجه وکړو په دې میاشت کې مجاهدینو د هیواد په بیلابیلو سیمو کې دومره ولسوالۍ فتحه کړې چې پخوا کله هم په یوه میاشت کې دومره د ولسوالیو مراکز د دښمن له شتون څخه نه دي تصفیه شوي. د سېتمبر میاشتې له پیل سره مجاهدینو په کندز، بغلان، تخار، مزار شریف، فاریاب، فراه او څو نورو ولایاتو کې پراخ بریدونه پیل کړل. په کندز، بغلان او فراه ولایاتو کې لومړی جهادي بریدونه د دې ولایاتو په مراکزو راټول وو. مجاهدین د کندز او فراه ولایاتو مرکزي ښارونو ته ننوتل او ډیرې سیمې یې تر خپل کنترول لاندې راوستې، دغه راز یې د پلخمري ښار ځینې برخې هم ونیولې او دغه ښار یې څو اونۍ تر بشپړې کلابندۍ لاندې وساته.

کله چې دښمن خپل ټول قوت د ولایاتو د مراکزو دفاع ته متوجه کړ مجاهدینو د ولسوالیو په فتوحاتو پیل وکړ. د سېتمبر په دریمه مجاهدینو د بلخ زارع ولسوالۍ ونیوله، د سېتمبر له شپږمې بیا تر یوولسمې نیټې مجاهدینو په کندز، بغلان او تخار کې د پام وړ پرمختګونه وکړل. په کندز کې یې خان اباد، دشت ارچي او قلعه زال ولسوالۍ یو په بل پسې فتحه کړې، په بغلان کې یې د ګذرګاه نور ولسوالي ونیوله او په تخار کې یې د خواجه غار، ینګي قلعه او درقد ولسوالیو مراکز تر کنټرول لاندې راوستل. په دې ټولو عملیاتو کې مجاهدینو ته لوی مقدار وسلې، بیلابیل مهمات او مختلف النوع امکانات هم په لاس ورغلل او د دښمن ډیر شمیر عسکر مړه یا ټپیان شول.

د ولسوالیو د فتحو لړۍ همدلته تم نه شوه، بلکې د همدې میاشتې تر پایه یې جریان درلود د سېتمبر میاشتې په ۱۴ مه نیټه مجاهدینو دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ مرکز او د ګراني، ګنج اباد او

شیوان سیمو په شمول ددښمن ټولې پوستې اومهم مرکزونه فتح کړل.

د سبتمبر په ۲۱ مه د زابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ زړه وداني او شاوخوا ګڼې پوستې د مجاهدینو لاس ته ورغلې، پنځه ورځې بعد د سبتمبر په ۲۶مه د سمنګان دره صوف پایین ولسوالي فتحه شوه او مجاهدینو ته ډیر غنائم هم په لاس ورغلل. د همدې میاشتې په ۲۷ مه د فاریاب قرمقل ولسوالي او په تخار کې د خواجه غار او بهارک ولسوالیو مراکز د مجاهدینو تر کنترول لاندې راغلل، یوه ورځ وروسته د جوزجان د درزاب ولسوالۍ مرکز فتحه او د سبتمبر په ۲۹ د تخار چاه آب ولسوالي د ډښمن له شتون څخه تصفیه او د فتحې سپین بیرغ وربانډې رپید. همدا اوس چې دا مقاله لیکم د اسلامي امارت مجاهدین د تخار ولایت مرکز تالقان ښار ته رسیدلي دي، رسنۍ وایي له تالقان سره د کابل اړیکې پرې شوې دي او کیدای شي مجاهدین وربانډې لوی برید ترسره کړي.

د مجاهدین دغه مسلسل پرمختګونه او د ولسوالیو فتوحات ښییي چې د اسلامي امارت مجاهدین د هر کله په نسبت په ځواکمن جهادي موقف کې دي. دا چې ترمپ په ټویټر کې باتې وهي چې مجاهدین یې سخت ځپلي او یا د کابل د ګوډاګۍ اداري پوځي چارواکي د بریا او د مجاهدینو د ځپلو ادعاء لري، له لوړو یادو شویو میداني حقائقو څرګندیږي چې د ډښمن دغه ادعاوې هیڅ حقیقت نلري.

بالمقابل مجاهدین د ډښمن له هر څومره پوځي وحشت او بمبارونو سره سره تر پخوا په قوي جهادي موقف کې دي. د فتحو بهیر یې جریان لري او د پخوا په نسبت په کمه زماني محدوده کې ډیرې سیمې او ولسوالۍ د ډښمن له شتون څخه تصفیه کوي. الله تعالی ته د امید دی چې د مجاهدینو د فتوحات بهیر به نور هم په څپو راځي او ډښمن به د سیاسي ډګر غوندې په پوځي ډګر کې هم سرکوب او په سرتیټۍ محکوم کیږي. ان شاءالله... و ماذلک علی الله بعزیز

د استعمار ترچتر لاندې

د انتخاباتو جعلي پروسه او افغان ملت

شهیدزوی

د ګران هېواد د اشغال په نتیجه کې زمور پر مجاهد ولس دتپل شوې تش په نامه ولسواکۍ او دیموکراسۍ حقیقت ډېر ژر افغان ملت ته روښانه او پدې ټول ګران هېوادوال پوه شول چې ولسواکي یوه غولونکې ناره ده؛ ددنړۍ پر هېوادونو دغرب له لورې په ولسواکۍ کې نه په ربښتیا د ولس درایو او ارادو احترام وي او نه هم د ولس واک. او بیا زمور د هېواد په څېر په یو قبضه شوي هېواد کې خو دربښتونې دیموکراسۍ او ولسواکۍ تمه هسې خیال، محال اوجنون دی.

دغرب استعماري ځواکونه چې په سر کې پې امریکا ده دهمدې په زړه پورې غولونکې نارې نه دخپلو استعماري اهدافو دلاس ته راوړلو لپاره سبه کار اخلي اود خپل استعمار اویا نفوذ لاندې هېوادونو کې د همدې تش په نامه ولسواکۍ د دوام لپاره هر ځلور یا پنځه کاله پس دانتخاباتو په نوم جعلي ډرامه رامنځته کوي او پکې دخپلې خوښې هغه لاسپوڅي کامیابوي او واک ته پې رسوي چې پې چون وچرا پې دحکمونو تعمیل کوي او دخپل ملک اوملت پر ځای د همدې آقاګانو ګټوته زیاته وفاداري ښکاره کوي.

کله چې دیوې غلامې ځېرې په شتون کې ددوئ اهداف په هغه ډول نه پوره کېږي چې دوئ پې غواړي نو هغه له منځه وړي اویا پې دسبه ډېر بدنامولونه پس دواک نه پې برخې کوي اوپر ځای پې بل هغه څوک راولي چې ورته دتېر په څېر زیات وفادار وي چې داشغال نه پس مور په خپل هېواد کې دامریکا دهمدې لوبې عیني شاهدان یو.

همدا لامل دی چې نن ولسواکۍ او دیموکراسۍ خپل نړیوال حیثیت ډېر زیات زیانمن کړی؛ سیاسي او قانوني مشروعیت پې په هرځای کې تر کلکې پوښتنې لاندې راغلی او دهر ولس زیرک، هوښیار اوخپلوملي ګټوته ژمن خلک دادلویدیځو حکومتونو هغه خطرناکه دسیسه بولي، چې لدې لارې دخپلواکو ولسونو په حریت او استقلال دغلامۍ جغ ګدي؛ پدې سیکولریزمه لار نقشه یرغلګر دآزادو قاموتو آزادي سلبوي او دخپلې خسا دیموکراسۍ دمسلط کولو له لارې پې په خپلوخپرو کړو لوموکې داسې راګېروي چې مذهب، کلتور سیاست او اقتصاد پې بیا دازادۍ نوم نه شي اخستی او داټول بیا ددوئ دموخو تابې وي.

په خپل دین، خاورې، کلتور او آزادۍ مین دلویدیځو تهذیبونو سره نا بلده او کرکجن افغان ولس اوس ددښمن له ناکارو ارادو اوشومو پلانونو نه له بل هرچا زیات خبر دی نو ځکه پې په غوڅ اکثریت لدې لویدیځې ډرامې سره هر ځل پریکون اعلان کړی او دا غربي لوبه پې عملاً تحریم کړي ده، خو د یرغلګرو خبرې او سیاسي منابعو په ډیره سپین سترګۍ ورته دمشروعیت نغاړې وهلې او د افغان مسلمان ولس مرۍ پې هر ځل په پڅه چاړه ذبح کړیده.

اوس چې یوځل بیا په اصطلاح دولسمشرۍ دټولټاکنو لپاره دګڼو کاندیدانوترمنځ سخته مندې روانې وې نو دهر کاندیدسترګې دخپلوبادارانو پر لور وې خو لویدیځو اشرپانو د خپلې حربې دتطبیقولو لپاره ددوئ لـه منځـه یـوازې (اشرف غـني، ډاکـټر عبـدالله او ګلبـدین حکمتیـار) مخـکښ لوبغـاړې پریښودل او ددوئ روانې چنې او یو پر بل دجعل او تقلـب ادعـاوې پې هـم د قـرنطین پرځـای د وارداتي ولسواکۍ او دیموکراسۍ لویه نښه وبلله.

افغانان پوهېدل چې دسپټمبر په ۲۸ مې نېټې کېـدونکې اوسـنې انتخابـات دیرغلګـرو هغـه پـلان شـوې دسیسـه ده، چې لـه املـه بـه پې دکابل ارګ د وخـت شـاه شـجاع (کارمـل، کـرزي) نـه بـد تـرو داشرف غـني او عبدالله په نـوم هغـو غـلام ضمیره لاسپوڅو تـه وسـپاري، چې پې دټېر پنځـه کلـن واک پرمهـال د اسـلام، خـاورې او دافغـان مجاهـد ولـس دتـاریخي قربـانیو او عظمـت پلورلـو تـول هغـه اقـدامات وکـړل چې بـادار تـرې غـو ښـتل؛ واک تـه درسـېدوسره سـم پې امریکایي اسـتعمار تـه دتلپـاتې پـوځي شـتون سـند ورکـړ او دافغـان مسـلمان ولـس تـاریخي عظمـت او حریـت د مسـخه کولـو او دغربیانو په لومـو کې دتل لپاره دافغانانو دښـلولو په موخـه پې دامریکاسره دزمانې بدنام امنیتي تړون رامنځته کړ!

نوځکـه افغـان مجاهـد ولـس داسـلامي امـارت دغوښتنې سره سم دا ډرامه رد کړه اولکه څنګه چې فکر کېدلو همداسې قاطـ اکثریت ددې ټپل شوې دسیسې سره دمقاطعې په پرېکړه کلک ودرېد.

امریکا او نـور لویـدیځ دهـر ځـل پـه څـېر دې انتخاباتوتـه هـم دمشـروعیت ورکولـو هڅې کـوي او وایې چې د ۲۰ نه تر ۲۵ سلنې درایو ورکولو وړ تنانو پـدې انتخابـاتو کې ګـډون کـړی حـال داچې دګـډون کونکـو فیصـدي ۱۰ تـه هـم نـه رسـېږي او نړۍ منلې چې دا دنړۍ په تـاریخ کې هغـه انتخابات وو چې تـر ټولو کمو خلکو پکې ګډون وکړ.

نـو د داسې انتخابـاتو نتـایج بـه کـوم ډول مشروعیت ولري چې نه پکې دافغانانو غوڅ اکثریت ګډون کړی وي، همدا راز دانتخاباتو په ډرامه کې دوه مخکښـان او ددولـت مشـرلان اشرف غـني او عبدالله پې پخپله په یوبل ددرغلې تورونه لګوي؛ شفافیت پې نه مني او نه پې هم په شفافیت نړیوال قانـ کولی شي او نه دجهادي مقاومت اصل لوړې (اسلامي امارت) تسلیم کړي وي.

پـداسې حـال کې چې دافغـان مجاهـد ولـس درایـو او افکارو ترجمـاني او تمثیـل همـدا اسـلامي امارت کوي او ټول ملت دیوه واقعي شرعي زعامت تمه له همدې اسلامي امارت څخه کوي، چې په نه ګډون پې طبعاً دا انتخابات تر کلکې پوښتنې لاندې راغـلي دي او ولـسي او نړیـوال مشـروعیت پې پـه تمامه معنی له لاسه ورکړیدی.

پـداسې حـال کې چې مـونږ لـه پیلـه داسې فرمایشي. اوجعلي انتخابات دخپل هېواد داسلامي تشخص او افغاني هویت له اقدارو سره په سراسر ټکـر کې بلـلي دي، اوس هـم وایـو چې څنګـه دا انتخابات جعلي، فرمایشي. او له اوله سره د فساد نه ډک وو، همداسې به پې په پایله کې جوړه اداره هـم کـوم شـفاف قـانوني او اسـلامي مشـروعیت ونلري او افغانانو ته به هیڅکله هم دمنلو وړ نه وي؛ داځل به هم دامریکا په حکم دوه سړې یا درې سړې اداره رامنځتـه شي چې دامریکـا داسـتعماري اهـدافولپاره بـه دتـېرې اداري نـه زیاتـه وفـاداره او دملت لپاره لا زیاتـه وحشي. او قاتلـه اداره وي. نـو دټولې مهذبې نړۍ نه مو دا غوښتنه ده چې دافغان ملـت ارادوتـه احـترام وکـړي دامریکا ړونـد تقلیـد پرېـږدي؛ دامریکـا پـه لاس دامریکـا دموخـو لپـاره رامنځته کېدونکې اداره دافغانانو نماینده اداره ونه ګڼي او نـه هـم ورسره دیونماینـده دولـت پـه څـېر روابط وساتي تـر څـو دهغـو ټولـو بدو نسـبتونو نه ځانونـه وژغـوري چې ددې اداري دقـانوني ګڼلـو لـه املـه بـه دوئ تـه کېږي.

دهیواد قاطع اکثریت
ټاکنې تحریم کړې

بشیر ارمان

د روان ۱۳۹۸م زکال دمیزان په ٦ مه له جعل کاریو اودرغلیونه ډکوانتخاباتو کرغیړنه اوبدمرغه پروسه چې په کومه بد رنګۍ اوبېخوندۍ ترسره شوه شاید په ټوله نړۍ کې ساری ونلري

کرغیړنه او بدمرغه په دې معنی چې یوځل بیا دلویې ټګۍ برګۍ په کولو دافغان ملت په سترګوکې خاورې واچول شوې او په سیاسي سرنوشت یې ملنډې ووهل شوې

دشک پرته اشرف غني یو کرغیړن اوبدمرغه انسان دی، ذهناً، فکراً اواعتقاداً دافغان ولس دفکر اوعقیدې سره دښمني لري، نومورې دخپلو بادارانو دخوشالولو لپاره دافغان ولس پرضد هرډول لوی اوکوچني جنایتونه ترسره کول نه دریغوي، په دې لړکې تازه تاریخي جنایت او نه بښونکې جفایې دسولې پرضد د انتخاباتو دناکامې او شرمونکې پروسې رامنځته کول اودسولې لپاره دراټوکیدلوهیلو وژل دي

دجعلې انتخاباتو د نا کامه پروسې د سرته رسولونه یې موخه داده چې دراتلونکو پنځونورو کلولپاره په ارګ کې پاته شې څوبیا هلته دملت ټولوژنکوقاتلینوته دشابسیو اومبارکیومډالونه ورکړې اودهغوی پر ټولو وحشتونو اوظلمونوباندې دافغان ولس غږزندۍ او چوپ کړي

خو حقیقت دا دی چې افغان ولس د تیروناخوالو تجروبوته په کتو هوښیارشوی اونوردچا په تشو شعارونواوغوړوچربووینواوو خطاء کېږي نه، زکه تیرو نولس کلوکې افغانانو دشرمیدلې دیمکراسۍ په ګیلاس کې دزهروډک کوم ګوټونه کړي، دهغوتریخ خوندیې په خولوکې لاپاته دی امریکا دیوولسم ستمبربریدونوپه پلمه د۲۰۰۱ زکال داکتوبرپه اوومه پرافغانستان دیرغل سره سم دلته خپل لاسپوڅی رژیم جوړکړ، سملاسي یې دهم هغه لخوا په افغان ولس یو پردی اساسي قانون وتاپه، دهغه وروسته یې په۲۰۰۴ زکال کې د ولسمشرۍ

انتخاباتو په نوم پردیپاله پروسه ترسره کړه، چې د هغه مهال امریکائي منابعو په وینا: پکې دولس ملیونه کسانو رایې کارولې وې، او حامد کرزی یې ګټونکی اعلان کړی و

هغه مهال په پورته شمیر رایو کارولوغربیان دومره خوشال وو چې نور دچاخبره په کالیو کې نه ځایدل، هغوی داسې انګیرله چې په دې سره یې ربښتیا افغانستان فتح کړ، همدیته احساس ته په کتو سره په هم هغه ۲۰۰۴ ز کال کې پنټګان افغانستان کې خپل بشپړ بری اعلان کړ، هغوی داسې احساسوله چې افغانستان او افغان نور د دوی په اشارو یونځا کوونکی ولس دی، د دوی هرحکم اوهره غوښتنه د کوم ځنډ پرته منې، زیات خوشبیني وو چې دافغانانواکثریت ددیمکراسۍ په پلوی رایې واچولې او د۲۰۰۹ زکال انتخاباتوکې یې د۲۰ میلیونه څخه دزیاتو خلکودرایو اچولو وړاندوینې یې کولې، خو دوی هغه مهال دسخت خجالت او نهیلۍ سره مخ شول چې کله د ۲۰۰۹ز کال په ټاکنوکې ایله ٦ملیونه خلکو کډون وکړ، او ددولس ملیونه رایه ورکوونکو شمیر نیم په نیم راکم شو، په دې سره یقیناً غربیانو ټکان وخوړاو ورته پخپلو عزایمو شک راغی لیکن ددې لپاره چې نړۍ ته په افغانستان کې دخپل بري باور ورکړي او ورته ښکاره کړي چې افغان ولس له دوی سره ولاړدی نو خپل لاسپوڅی رژیم ګرم اوپړ وباله چې دا دهرڅه د هغه دخرابې کار کرده ګۍ زیږنده دي چې دافغانانو دننه یې په انتخابي بهیر باندې دخلکو باورته ټکان ورکړی

هغوی کوښښ وکړ چې په یو عنوان او بل عنوان افغان ولس خطاء کړي او دخپلو بد کړو وړو لاس په کرزي او دهغه په اداره پاک کړي کله به یې هغه ته داخطار اوګوابښ په ژبه خبر ورکړچې که دخپلې ادارې څخه یې فساد ونه ویست دوی (امریکایان) به ورسره خپلې مرستې وځنډوي دا او ها به وکړي.

خوبیا هم هغوی (امریکایانو) ته جوتیده چې افغانان د دوی په شتون باندې راضي ندي اوبل ددوی (امریکایانو) منافقت ترې پټیدای نشي۔ نوژریې دکرزي پاڼه واړوله اودهغه په ځای خپل یو بل ګوډاګی اشرف غني غوره کړ، مخکې ددینه چې دټاکنو نیټه اعلان کړې دامریکایانو په اشاره نړیوالې میډیا داشرف غنی په صفت اوستاینه کې دومره زیات تبلیغاتي کمپاین وکړچې د یو لیوني سړي اوعصبي ناروغ نه یې دجهان نابغه شخصیت جوړکړ، او هغه یې دنړۍ په ترټولو لوی مفکر ونوماوه، تقریباً داخبره یې دهر افغان ترغوږووورسوله چې هغه (اشرف غني) دنړۍ په سطحه اول مفکر دی، په دې تبلیغ ډیری ساده لوح خلک تیروتل هغوی په ربښتیا هم غني دنړۍ لومړی مفکر اومانه او ورته یې رایې ورکړې خو بیا هم د ۲۰۱۴ زکې په ټاکنو کې ایله ۷ملیونه خلکو ګډون وکړ، یعنې د

دومره پراخ تبلیغ باوجود دکرزي د دوهمې دورې له انتخاباتو نه یو ملیون زیاتی رایې واچول شوې

خوپه تیرو پنځو کالو کې اشرف غني په ولس کې دومره منفور او بې باوره سړی ثابت شو چې دافغانستان په تاریخ کې دده اومره بیغرته اوبې وجدانه بل ندی تیرشوی، دامریکایانو په وحشیانه بمباردونو کې دمظلومو افغانانو په وژلوبه نه یواځي چوپ پاته و، بلکې هره ورځ به چې امریکایانو لس گونه افغانان په شهادت رسول ده به دامریکا یې قواوو دعمومي قومندانۍ څخه مننه کوله اوهغوی به یې ستایل؛ په دې سره افغان ولس داشرف غني نه زیات متنفر شو آن چې چاته یې نوم و اخلي تر قی یې رازي، همدا وجه ده چې دمیزان د٦مې نیټې په ټاکنوکې دخلکولخوا پراخ نه ګډون وښوده چې ملت د دوی سره ندی ولاړ، درسنیو دتول کوښښ، دروغو اومبالغو باوجود په ټاکنوکې دګډون کوونکو خلکو شمیرتردې مهاله دوه ملیونه شاو وخوا تثبیت شوی دی، حال داچې افغانستان د۳۷ملیونه وګړو هیواد دی، په دې کې نژدې ۲۳ ملیونه خلک واجدین درایودي، ایا د دوه ملیونه وګړو رایې د۳۷ ملیونه خلکو درایو استازیتوب کولی شي؟ ایا دا انصاف او عدالت به وي چې دوه ملیونه تقلبې رایې دي د ۳٦ ملیونه خلکو درایو کفیل وګڼل شي؟

دهغو وروستیو ارقامو له مخې چې پخپله دلاسپوڅي رژیم دانتخاباتو کمیسیون د کمشنرانو لخوا اعلان شوي دهیواد په لازمینه کابل کې چې د۴ ملیونه څخه زیات خلک پکې ژوند کوي یوائي څلورلکه خلکورایې کارولې، نو ایا دیته انصاف او عدالت ویل کیدای شي چې د۴لکه خلکورایه دي د۴ میلونه خلکو درایواستازې وګڼل شي نو په کابل کې سربیره په دې چې دولایتونوپه نسبت کلک امنیتي تدابیرشتون لري دخلکو د دومره کم شمیر ګډون ښیي چې دوی خلک قانع نکړای شول چې په لوی شمیرکې درایو اچولو مرکزونوته یې بوځي، چې دا دانتخاباتو په جعلي پروسه دخلکو دبې باورې څرګند مثال دی او جوتوي چې د افغان ولس قاطع اکثریت لخوا نه ګډون جعلي او نمایشي- انتخابات تحریم کړل.

ولې ملت پوهیږي چې په اوسنیو شرایطو کې سولې ته ضرورت لري، نه انتخاباتوته! باید تر هرڅه دمخه سوله راغلې وای داچې اشرف غني دسولې په وړاندې دموانعورامنځته کولوکې دځان ګټه لیده، نو دانتخاباتوپه ډرامه یې دسولې بهیرته زیان ورساوه، کوښښ یې وکړ چې دسولې لپاره روان کوښښونه سبوتاژ کړي لیکن ولس پخپل درایت سره وښوده چې دانتخاباتو نمایشې بهیر دوی ته دمنلو وړندی او نه د دوی دشته ستونزو حل دی نوحتمي اوضروري ده چې ددي انتخاباتو په ترڅ کې رامنځته کیدونکی دولت به هم هیڅکله مشروع حکومت نه وي، دافغانانو دقاطع اکثریت له رایې به مخالف حکومت وي اوهم به د تاریخ ترټولوناکام اوکمزوری حکومت وي، چې په راتلو به یې په هیوادکې جنګونه او

مرګونه زور واخلي، بې ثباتۍ او بې امنیتۍ به نوره هم خوره شي، دبې وزلو افغانانو اوسنۍ ناخوالۍ او ستونزې به لاپسې پیچلې او اوږدې شي نوپه دې وجه اړتیا ده چې نړیوال او بیطرفه سازمانونه راوړاندې شي دشویو انتخاباتو پایلې ناسمې اعلان کړې اودخلکو په حقوقوداشرف غني یا عبد الله لخوا دډاکې اچولو مخنیوی وکړي

بل دهیواد قومونه اوخلک دي نور له ځانوڅخه د ډارخپسې وغورځوي راپورته دي شي، دملت سرنوشت ټاکل دي پخپل لاس کې واخلي، له امریکایانو اونورودي په کلکه وغواړي چې هغوی دي خامخا دافغانستان اشغال پای ته ورسوي، خپل شته عسکردي له هیواده وباسي، افغانان دي دخپلې خوښې سره سم سولې راوستلوته پریږدي، زکه داشته ټولې ناخوالې دامریکائي اشغال زیږنده دي، څوچې اشغال نه وي ختم ترهغې رښتینې سوله نشي راتلی، ښه داده چې ملت دامریکا پرضد په جرئت سره پورته شي اوهرڅومره ژر چې ممکن وي له هیواده دي اشغالګر وباسي زکه دامریکا په وتلو کې بیشکه دټول ولس اوهیواد خیراو خوشالې نغښتې ده باید ولس په دې لړکې خپل مسؤلیت اداء کړي او تر ې غافل پاته نه شي.

بل امریکایان هم باید دخلکو دقاطع اکثریت لخوا دانتخاباتو سره پریکون بهیردتحریم په معنی وفهموي، اوپه دې پوی شي چې افغان ولس ددوی د چلونو اوترایستونوسیاست ته ځیردی اونور دوی نشي کولی چې دوکه ورکړي، ښکاره مثال همدا انتخابات دي چې دډیرو کوښښونو او پراخو تبلیغاتو باوجود افغانان د دوم په دام کې رانغلل، نوکه په راتلونکي کې بیا هم دوی خپل ناروا اشغال ته د دوام ورکولو پخاطر په افغان ولس دخپلو لاسپوڅو اشخاصو مسلط کولو کوښښ وکړي دابه پخپله د دوی لپاره بدې پایلې ولري اودافغان ولس لخوابه دوی دکلک غبرګون او عکس العمل شره مخ شي نو بهتره داده چې امریکا یان پخوانۍ ناکامه تجربې تکرار نکړي او دافغان خاورې د اشغال پای ته رسولو ترڅنګ په افغانانو دخپلو ګوډاګیو ځیرو له مسلط کولو څخه په شاشي پای

د انتخاب له پوښه لغړ او بربنډ د پردیو انتصاب

محسن پکتین

انتخاب او انتصاب له لفظي اړخه یو له بله ورته کلیمي دي او د یوه توري په توپیر سره بېلېږي، خو په مانا کې انتخاب خوښوني او پر یوشي لاس ښودني ته وایي، خو انتصاب پر کوم ځای کې د یو شي درولو ته وایي چې بېخي ډېر زیات توپیر سره لري.

غلیمان له تېرو دوه لسېزو راسي د دې دوو بېلو مفاهیمو یو بل ته نږدې کولو او انتصاب ته د انتخاب پوښښ ورکولو سره زموږ له سواده وروستو پاتې هېوادوال تېر باسي او په کړاونو یې اړولي، د دې پوښښ لړۍ اوږده او خورا پېچلې وي چې بیا طبیعي هم د تېروتلو هېوادوالو انتخاب!! د هغوی پر وړاندې د انتصاب د یوې پېچلې دسېسې. په توګه راڅرګندېږي او اوس مو هېوادوال له شاته پاتې والي سربېره ښه پر سړو مغزو پر پوهېدلي.

د انتخاب پر نوم پوښلي انتصاب دسیسه داځل په داسي مهال ترسره کېږي چې ولس مو د ترټولو ستر ارمان او سولي په درشل ولاړ دی، خو پردي او هم پردېپال پرې انتصاب د یو بل خنډ په توګه خپل لومړېتوب ګڼي چې ښایي د دوی په خبره پکې د نړیوالو ګټو تمه یې کړې، که څه هم سوله دوه لسیزي لا نوره شاته بیایي او زموږ هېواد/ولس د ټولوژني او بوږنونکو غمېزو یو نوي وحشتناک پړاو ته ور ټېلوهي.

د۲۰۱۴زېږدېز کال همدې ډول انتصاب راهېسي د انتخاب له چاري سره د ولس حساسیت مخ پر لوړېدو و، او بیا چې داځل ولس سوله غوښته، خو دښمن پرې پر زور، چل او چالاکۍ بیاهم د جګړې او بدمرغیو انتخاب مانه، نو د طالبانو له ولس څخه په دې دسېسه کې د نه ګډون کلکه غوښتنه او دښمن ته ګواښ هم ورمله شوه ولس د پردیو د انتصاب له پروسې سره بشپړ پرېکون وکړ، له خپل لوري یې ور شنډه کړه او پر هغه یې همدومره اړه لرله چې پر سوله د جګړې او حتمي بدمرغیو انتخاب ونکړي او د پردیو انتصاب ته پر خپل لاس د مشروعیت پوښ ور نکړي، نور نو پردي او لغړ انتصاب یې.

د دې پروسې له ناکامۍ وروسته چې د کابل ګډولې پر اصطلاح ټاکنیز کمېسیون، مامورېنو، ناظرینو او د څار بنسټونو، رایه کارونکو، د رایو مرکزونو ته تللو خبریالانو، ټولنېزو او مدني فعالانو او..... پر کومو ټکو د هغې څرنګوالی ښودلی، لکه د ټاکنو بهیر پېکه او ورکې د خلکو ګډون کمرنګه و، په تېرو۱۸ کلونو کې ترټولو کمي رایي وې او وړونکی یې د انتخاب مشروعیت نه لري، د بایومیټریک . نوم لیکني . پر پېژندندپاڼو د سټیکر نه شتون تخنیکي ستونزي وې، د ټاکنو کمېسیون له دومره او دومره مرکزونو سره اړېکه پرې شوې وه، د رایي ورکړي له پېلېدو وړاندې د ځېني نوماندانو په ګټه صندوقونه ډک شوي، د رایي اچوني په ورځ امنیتي ستونزي وې او داسي بل هر تعبیر چې خپلو او پر دیو کارولي پر بېلابېلو ادبي ټکو د دغې دسیسې د ناکامۍ تعبیر دی.

د دغو تعبیرونو مثبت اړخ هم پر هغو رایو ولاړ دی چې دولتي خلکو، د نومانادندانو خپلوانو،

په یو ډول تهدید او غولول شویو هغو، ځینې کرایې مدني مفعولانو، په یو نه یو ډول ناقانونه لارو چارو راټولې شوې تر دې چې پر ځینې ځایو کې نفوسوته پر کتو رایې تش اټکل شوې دي، که یو نیم چا د زور، زر او تزویر پر وړاندې رایې کارولې هغه ببڼې په نیست شمار او دومره کمې وې چې د ټولو او هرډول رایو په را یو ځای کولو اړله یو نوماند هم د انتخاب مشرۍ نشي. ترلاسه کولای، نو اوس که د پردیو له لوري د هر ګوډاګي انتصاب کېږي د ولس د انتخاب له پوښ څخه لوڅ، لغړ او بربنډ به وي.

طالبانو چې هر وخت د ولس د زړه خبره کړې ولس یې هم له دغې د سیسې. سره د پرېکون غوښتنې ته لبیک و وایه، د دې ترځنګ طالبانو دښمن ته هم ګواښ کړی و چې دا دسیسه به یې بریالېتوب ته پرې نه ږدي او هغه به پکې دروند زیان هم و ګالي، دا چې د طالبانو پر هره ژمنه او ګواښ حتی دښمن هم پوخ باور لري ، دا ځل یې هم د زړه تل ته پرېوټي وه چې طالبان ټوکې نه کوي بلکې ټوکې به راوکړي، نو ځکه یې یوائي بلا تبلیغات وکړل په عملي ډول یې نور زیات زحمت ګاللو ته زړه نښه نکړ، د طالبانو له وېرې د ګوتو په شمېر مرکزونو پرته په زیاتره سېمو کې لا کوم مرکز هم نه و خلاص کړی، کوم چې یې د تبلیغاتي ګټې اخیستنې لپاره خلاص کړي وه طالبانو پرې بریدونه وکړل او یا هم خلک ورته د اسلامي او ملي احساس له مخې ورغلي هم نه و.

که د ارګ او سپېدار ګډولي/سهامي شرکت د دې دسیسې. په نښه ډول ترسره کولو ته کارویل په وړاندې یې طالبانو د هغې شنډول خپل کار وباله چې ګډوله پکې پاتې راغله خو طالبانو پوره تابیا نېولې وه او یوائي په همغه ورځ یې پرې د هېواد په ګڼ شمېر ولسوالیو کې د ۳۵۰ شاوخوا بربدونه تر سره کړل، سلګونه د ګډولي اړوند تنان یې مړه او ټپیان کړل، د یوې قرارګا په ګډون لسګونه پوستې، سیمې، ګڼ شمېر وسائط، وسلې او مهمات یې ترې ونېول او دغه دسیسه له پیله په ټپه و درېده.

له دې څخه دا هم نښه جوته شوه چې طالبان څومره خپل دریځ او تاکلي موقف ته ژمن دي، په ګډوله کې د راټولو چوروا‌کو په هرڅه کې دروغ او تش تېر اېستنه وي، د همدې دسیسې. ترسره کولو په موخه چې یې سل زره(چې د یولک په نسبت زیات پرسېدلی نوم دی) امنیتي!! ځواکونه، دومره او هومره ټاکنیز!! مرکزونه، د نوي او لوړ کیفیت بایومیټریک دسګاوي، د پاکستاني چارواکو سرېره د نړیوالو ځواکونو له لوري امنیت کې مرسته تبلیغول او په پای کې یې پر ولس باندې غږونه کول چې یې خاره دي ټاکنېزو!! مرکزونو ته لاړ شي، هرڅه لکه چې ومو لېدل له حقیقته تس نس یو سراب او د اوبو په رنګ ځلول شوې خټه وه او له همدې املې یې دغه دسیسه شنډه هم کړای شوه.

بیا لا هم چې ګډوله اداره ځان پکې بریالۍ ښیي یوائي او یوائي د هماغو تبلیغاتو دوام دی او بس، خو په دومره توپېر چې پیل یې د دسیسې. د بریالیتوب لپاره او دوام یې د هغې له ناکامۍ وروسته بربنډ انتصاب ته له بوجیو یو ځیر پردوګ ګنډلو لپاره دی، نور چې یې د پیل حقیقت څنګه و هغه مو لېدلی د دوام حقیقت یې هم هغه ډول دی چې نه رایې شته او نه کارولی شوې رایې دومره دي چې که هر ډول دي د ټولو په را یو ځای کولو لاهم اېله د یوه نوماند انتخاب مشروع شي دا خو پرېږده چې بایو مېټریک او غیر بایو مېټریک ته یې وېشي، پېنځه نوماندان (غبرګ، ارګ، ګلببو، نوبل، بې پدر ام) یې ترخپل منځ پر وېشلو سره یو د بل سیالۍ وکړي او د درغلۍ او تقلب تورونه پوري کړي، اوس چې په همدې نومونو کومه غوغا ګډه ده یوائي تبلیغاتي هڅه یې ګڼلای شو چې انتصاب ته د مشرۍ ورکولو او د اړوند کمېسیون د شرم پټولو په موخه تر سره کېږي او کرار د نوماندانو ترمنځ د ناندریو پېلامه هم ګرځي.

که څه هم د طالبانو په ګډون په کور دننه او بهر ګڼ شمېر څېړونکو او کارپوهانو، سیاسونو، ژورنالستانو او لیکوالانو د اندېښنې شکارولو ترڅنګ هرځوک په دې پوهېدل چې دا پروسه د ګڼو لاملونو له وجې د سولې بهیر ته سخت ټکان رسولای شي او هېڅکله هم نه د هېواد په ګټه ده او نه هم د روانوکشالو د هواري لاره، بلکې د لاتوندولو پې یوه بله چاره او دسیسه ده او له همدې املې پې ورسره سخت مخالفت او د مخنیوي هڅې هم وکړې.

خو اشغالګرو د سولې خبرو کې پر طالبانو د فشار په توګه دغه دسیسه تر سره کړه، چې ځینې کورنیو ګوډاګیانو د سولې خبرو د سبوتاژ او له منځه وړلو په تکل او تمه ورته زیاته خوښي وښوده، سره له دې چې د سولې خبرو په جریان کې له خپله وخته تر دې دمه را ځنډول شوې وه اوس په یو داسې حالت کې چې اشغالګر په تش لاس ورسره مخ دي د یوې فشاري حربې او تجربې په حیث پې ازمایي، د سولې له خبرو تکتیکي!! شاتګ موخه هم د دې فشار لا پسې. درنول او ځواکمنول و، نه دا چې په رښتیا او له زړه له سولې پر شا شوي دي.

هغوی خو له پیله هم د همدې ډول انتصاباتو، جګړې غځونې، جنګي ستراتېژیو او د سولې له خبرو د پرشاکېدو پایلو دېته اړ کړل چې له طالبانو ته د سولې خبرو ځولې ور وړي، همدلته طالبانو ته له خپلو سرو او سپینو کرښو له تېرېدو سرېره پې ټولې غوښتني هم ورسره ومني او د هغوی د خوښې سوله د بشپړ توافق تر پولې ورسره ورسوي، له دې پرته پې نه بله لاره لرله او نه پې بیا لري، نو بیا تر دې پر شا کېدو لپاره د ټرمپ دا ډول بهانه جوړې چې زمور ګران ماشومان هم پر پوهېږي څه مانا؟! یوائې دا چې انتصابي فشار وربانديې زورور او درونده کړي.

خو طالبان پرته له دې چې پرې نور زیات سر وخوږوي ځیني هېوادونو ته پر سفرونو کې د یولړ ډېپلوماټېکو لاسته راوړنو ترڅنګ د سولې موضوع ترڅوا لازیات ګرمه کړې او په داسې حال کې چې ولس د دوی پر غوښتنه د ټاکنو!! له پروسې سره پرېکون کړی او د سولې هیلې پې ور پورې غوټه کړې طالبان د ولس په نمائندګۍ، د هغه د ګټو را خپلولو او ستونزو د هواري په موخه د سیمې له هېوادونو سره ډېپلوماټېکه راشه درشه چټکوي د دښمن ذهن پې نور هم مغشوش او مصروف کړی، ورسره څومره چې پکار و طالبانو د ټاکنو په نوم د سېسه مختله کړه، ولس پکې ګډون تحریم کړ چې دغه پروسه په بېساري ډول پېکه او د نوماندانو په ګډون د ټولو کړیو د نهیلي لامل شوه.

ورپسې- د دښمن په دې اوتر وضعیت کې پاکستان هېواد ته د طالبانو په داسې حال کې لومړی ډېپلوماټیک سفر چې تر دې له مخه پې په هیڅ بیه نه کاو نه پې وکړ پر کورني دښمن یو بل تونډ او درونډ ګوزار شو، له هغه چې ولس پر سوال سوله غوښته خو ده پرې پر زور د جګړې انتخاب مانه، طالبانو هم د سولې خبرو سرېره د ولس له هېوادنۍ ډېپلوماسۍ، بهرني سیاست او ګټو چارو هم پسې- منزوي او بالکل څنډې ته وغورځاوه چې له سختې سرسامۍ او سریدالۍ سره پې مخ کړی او هرڅه پې ترې له پامه اېستلي.

لنډه دا چې طالبانو ته پې څه سیاسي درنې حربې او څه نظامي درانه ټانګان ټول سرچپه کوي او د دښمن له لوري رامنځته شوي وضعیتونه د ځان پرګټه اړوي، چې دغه فشار پې هم بشپړ سرچپه کړ، او داسې ښکاري چې د اشغال په نورو هغو پسې- دغه حربه هم له لومړۍ ازمایني سره سمه پڅه او پر شا واوښته، اشغالګر نور هم تش لاس او لازیاتو تنازلاتو ته اړ شول او له طالبانو سره به تر پخوا هم پر ټېټو سترګو مخ کېږي ان شاءالله.

دا اسلام غزوات او سرايا

د حنين، اوطاس او طايف غزا

دمکې سوبې وروستۍ برخه
□ په تير پسې
□ ابوظهير

حنين دمکې اوطايف ترمنځ ديوې وادې يا سيمې نوم دی، پکې دهوازن اوثقيف قبايل ميشت وو، کوم چې خورا زړور،جنګيالي او له جنګي فنونوسره اشناوو،هوازن ته په نسبت سره اسلامي تاريخ کې دې غزوې ته هوازن، غزوه هم ويل شوي، دمکې مکرمې دفتح وروسته دې دواړو قبيلو اسلام قبول نکړ،په دې وجه ورسره اندېښنه پيداشوه، چې هسې نه پرې رسول الله صلى الله عليه وسلم حمله ونکړي،نوپخپل منځ کې يې دامشوره ياپرېکړه وکړه چې مخکې له دې چې [رسول الله صلى الله عليه وسلم] پرې حمله وکړي،ضرورده چې موږ(هوازن اوثقيف) په مکه [چې مسلمانان پکې راټول شوي دي] حمله وکړو،رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دهوازن اوثقيف دواړو دجنګي تياريو په اړه خبرورسيد، دتحقيق اودکره معلوماتو راړوړولپاره يې عبد الله بن ابي حدراسلمي واستاوه، هغه لاړ، ويې کتل، بيرته راغی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې دهغوی دجنګي تياريو او ټمرياتو ټول حال بيان کړ،چې دهوازن او ثقيف ټول قبايل سره يوځای کړي اودهوازن قبيلې دسردار[مالک بن عوف نصري] په مشرۍ دحملې کولو لپاره په تياريوبوخت دي

څو ورځې وروسته مالک بن عوف نصري دشل زره کسانو سره يوځای په رسول الله صلى الله عليه وسلم او مسلمانانوباندې دحملې کولوپه بدنيت روان شواودبني جشم قبيلې سل کلن سردار[دريد بن صمه] چې پخپله د نقل وحرکت قابل نه و له ځان سره دجنګي سلاکارپه توګه هم روان کړ،زکه هغه يوپوخ تجربه کار،جهان ديده اوپه جنګي اصولوښه پوهيدونکی سردارو

مالک بن عوف ددې لپاره چې قبايل ترپايه له جګړې څخه تيښته ونکړي حکم وکړ چې هر سړی دي خپله ميرمن اوماشومان هم د ځان سره جنګ ته بوځئ ،کله چې [اوطاس] وادي ته

ورسیدل،نودرید بن الصمه پوښتنه وکړه داکوم ځای دی؟ خلکوهغه ته وویل: دا اوطاس دی، درید وویل:

دجنګ لپاره تردې غوره ځای نشته، زکه ددې ځای زمکه نه ډیره سخته ده او نه ډیره نرمه چې پښه پکې وښویږې

بیا هغه وویل: مالِي أسمَعُ رُعاءَ البَعيرِ،وَنُهَاقَ الحَمِيرِويُعَارالشّاءِ وبُكاء الصغير؟

ژ: دا څه داوښانو بغارې، دخرو رمبارې، داوزو چیغارې او د کوچنیانو ژړاوې اورم؟

خلکو وویل:

مالک بن عوف خلکوته حکم کړی چې خپل اهل وعیال اومالونه ځان سره راولئ، ځوهغوی له جګړې تیښته ونکړي او ترپایه مقابلې کولو ته تم شي.

درید بن صمه وویل:

هغه لویه تیرتنه کړې، ایا شکست خوړونکي خلک بیرته هم ستنیدای شي؟ په جنګ کې خو له توروا‌ونیزوپرته بل هیڅ هم په کارنه راځي، که تاسو شکست وخوړ اومات شوئ نو داټول اهل وعیال به مو د ذلت اورسوایئ باعث شي، غوره داده چې ټول اهل وعیال دلښکرترشا کړئ که فتح مو ترلاسه کړه نو ورسره یوځای به شئ او که شکست مو وخوړ نو میرمنې او ماشومان به د دښمن دلاس رسي څخه خوندي وې.

خوعوف بن مالک چې دځوانۍ په نشه مست و، د(درید بن صمه)خبروته یې ډیر التفات ورنکړ اوسوګند یې وکړ چې هیڅکله به دخپلې رایې نه په شاه نشم، ددې سپین رویې عقل خراب شوی، هوازن او ثقیف که زماپه رایه درومي، نو فبها اوکنه زه ځان وژنم...

ټولو وویل: موږله تاسره یو!

رسول الله صلی الله علیه وسلم دمقابلې لپاره هم دځان اوملګرو په تیارولو لګیاشو، اودصفوان بن امیه نه یې سل زغرې سره دټولو سامانونو مستعار واخیستې

دهجرت په ۸ م کال، شوال میاشت کې ددوشنبې په ورځ له دولس زره مجاهدینو سره یوځای دمکې مکرمې نه دحنین په لوروخوځید، لس زره مجاهدین هغه انصار او مهاجرین ورسره وو کوم چې دمدینې منورې نه ورسره یوځای راغلي وو، اوځیني نامسلمان شوي کسان هم ورسره ملګري وو(سیرت ابن هشام)

دولس زره کسیزلښکرچې کله دحنین په لور پرمختګ پیل کړ،نودغه مهال دیوتن له خولې دا الفاظ ووتل: چې لن نُغلِبَ اليَومُ مِن قِلّةٍ

ژ: موږ به نن دقلت په وجه مغلوب نشو

نومیالي، مفسر، محدث اوسیرت پوه مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله سیرة المصطفی کې لیکلي: په دې الفاظو کې دفخر،اواعجاب شائبه وه، په دې وجه دالله تعالی خوښه نشوه، داچې په عالم اسباب کې قلت هم دشکست باعث ګرځي، ورته په پام دخپل کثرت په لیدلودځیني صحابه وو له خولو ووتل چې: نن به موږ دقلت په وجه مغلوب نشو، یعنې که نن موږ مغلوب شو، نودابه دقلت په

وجه نه وې بلکې دالله تعالی له لوري به وي، زکه چې فتح ونصرت دهغه په لاس کې ده، لیکن الله تعالی ته داخبره خوښه نشوه.

ولې چې په دې کې دا ابهام و،چې دبري اوغلبې سبب کثرت دی؛ په خاصه توګه هغه حضرات چې دتوحید وتفرید منزلونه یې په نبوي خانقاه کې طی کړې وو په هغوی کې دیو له خولې نه درداسې [موهم] لفظ وتل دهغوی دشایانِ شان سره مناسب نه و، عجیبه نده، کوم خلک چې دفتح په ورځ مسلمانان شوي وو، هم درسول الله صلی الله علیه وسلم ملګري وو او دهغوی په زړونوکې اسلام ډیر راسخ شوی نه و دا دهغوی دصحبت اثرو.

په سنن نسائي کې روایت دی چې سهار مانځه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دروم سورة تلاوت کاوه ، په منځ کې ناڅاپه قرأت کې څه خلل، التباس اواشتباه پرې راغله کله چې دلمونځ نه فارغ شو نو ویې وفرمایل:

مَابَالُ اَقوامٍ یُصلُون مَعَنَالاَ یُحسِنُون الطَّهورَ وانّمایُلبِسُ عَلَینا القرآن

ژ: څه حال دی دهغو خلکو چې زموږ سره لمونځونه کوي او اودسونه په سهي توګه نکوي سیواله دینه چې داسې خلک زموږ په قرآت کې خلل اچوي.

مولانا کاندهلوي رحمه الله لیکي: ددې حدیث نه صفا ښکاره شوه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په قرأة کې دخلل او التباس باعث فقط دهغوی صحبت ومعیت و، چاچې داوداسه ټول آداب اومستحبات سم نه ورعایت کړي[عیاذاً با الله] په هغوی کې یو تن هم بې اودسه نه و، دټولواودسونه وو، خودځینو [لمونځ کوونکو] په اودسونو کې د[وضاءت] یعنې دحسن وجمال کمی و، دکوم کمي نه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم قلب مبارک متاثرشوی و، نواوس باید موږ د دینه دمحلدینو، زندیقانو، مبتدعینو او مشرکانو دصحبت دمنفي اثراوضرر اندازه ولګووعلامه طیبي، طیب الله ثراه وجعل الجنة مثواه

ددې حدیث په شرح کې لیکلي: دسننو او آدابو په رعایتولو انواروبرکات ترنورو پورې سرایت کوي او ترک یې دغیبیه فتوحاتو دروازه بندوي، او ځیني وخت یې اثرنوروته هم متعدي کېږي، چې ددغه شخص په وجه بل شخص دخیرات وبرکات اوانورو دتجلیاتو نه محروم کېږي، نو په حضراتو صحابه وو رضی الله عنهم ورضواعنهم چې کوم رنګ غالب و، هغه دسرورکائنات،منبع الخیرات والبرکات علیه افضل الصلوات والتحیات دصحبت اثرو، لیکن دیوداسي تن چې هغه دصحبت داثراتونه اجنبي و، بلا اختیاره دهغه دخولې نه داخبره ووته.

غرض داچې داکلمه دخدای تعالی خوښه نشوه او مسلمانان دفتح په ځای په ړومبی مرحله دشکست سره مخ شول

لکه الله تعالی فرمایلي:

وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ (٢٥) ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى

الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ)۲۶

اوپه ورځ دحنين کې کله چې په تعجب کې واچولئ ډيروالي ستاسي،نو دفع نکړ[ډيروالي] له تاسې څخه هيڅ شی[له حملې ددښمن نه]او تنګه شوه [له ويرې] پرتاسو زمکه سره دراتوالی ددې، بيا شاکړه تاسې[دښمن ته] حال داچې شاګرځوونکي [تښتيدونکي] وئ، بيا راولېږه الله تسکين خپل څو دمؤمنانو د زړونو دارامۍ سبب شي] پررسول خپل، [چې يوائي دغزا په ډګرکې ولاړو] او پرمؤمنانو[چې بيرته غزاته وګرځيدل]او راولېږلې [الله] لښکرې[دملائکو] چې نه وې ليدلې تاسې دالښکرې، اوپه عذاب يې کړل هغه کسان چې کافران شوي وو اوهمدا[تعذيب] سزاده دکافرانو.

دمسلمانانو لښکر د سې شنبې په مابنام حنين وادي ته ورسيد، دهوازن اوثقيف قبايل دوړاندې څخه په کمينونوکې ځای په ځای شوي وو، مالک بن عوف هغوی ته له وړاندې نه داهدايت کړی و چې:

دتورو پوښونه وشلوئ هرکله چې دمسلمانانو لښکر رانژدې شو نو څاپې ورباندې شل زره تورې په لاس خلک حمله وکړئ، نو هغه و چې کله سهار اسلامي لښکر له هغه درې نه د تيريدو په حال کې و په کومه چې دوی کمين نيولی و،ناڅاپه شل زره توره په لاس جنګيالیو ورباندې حمله وکړه، ددې حملې په وجه د مسلمانانو لښکر تيت پرک اووپاشل شو يواځي لس تنه زړور اوشيدايان درسول الله صلی الله عليه وسلم په څنګ کې تم شول، دغه مهال، درسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوځای ابوبکر، عمر، علی، عباس، فضل بن عباس، اسامة بن زيد او څوتنه نورپاته شول ، حضرت عباس دقچر واګې نيولې وې، او ابوسفيان بن حارث يې رکاب نيولی و، کوم خلک چې دمکې نه ورسره لاړوو هغوی ددې ناڅاپي شکست په ليدوپه چې مګويانوسرشول.

کلدة بن حنبل خوشال شو او چيغه يې له خولې ووته چې نن سحرختم شو.

صفوان بن اميه حال داچې هغه مهال مشرک و، وويل:

چوپ شه!الله دي ستا خوله پټه کړې زما په نظر دا ډيره غوره ده چې دقريشو يوسړی زما سردار او لارښود وي له دينه چې دهوازن يوڅوک دي راته لارښيي

شيبة بن عثمان بن ابي طلحه وويل: نن زه د محمدنه دخپل پلار بدل اخلم

دهغه پلار احد کې وژل شوی و، خوکله چې هغه درسول الله صلی الله عليه وسلم په لوربد قدم پورته کاوه سملاسي بيهوښه شو اورسول الله صلی الله عليه وسلم ته ونه رسيد، نوپوی شو چې من

جانب الله يې مخه ونيول شوه وروسته په اسلام مشرف شو.

لنډه داچې کله چې دهوازن او ثقیف قبایل دکمینونوڅخه راووتل او ناڅاپه هغوی حمله وکړه په مسلمانانو له هرڅوانه دغشوباران شروع شو یواځي خاص ملګري درسول الله صلی الله علیه وسلم سره پاته شول ، رسول الله درې واره دا ناره وکړه:

ای خلکو! دې لورته راشئ زه دالله رسول او محمد بن عبد الله یم(ابن الاثیر)

اَنَا النَّبِیُ لا کذِب اَنَا ابنُ عَبدِ المُطّلِب (بخاري ومسلم).

زه رښتونی نبي یم، ماسره چې زما د نصرت،فتح، زما دعصمت و حمایت کومه وعده شوې هغه بلکل حق ده په هغه کې د دروغو امکان نشته، او زه ځوی دعبد المطلب یم.

حضرت عباس چې دلوړ غږ خاوند و، رسول الله ورته وفرمایل: مهاجرینو او انصارو ته اواز کړه ، هغه په لوړ غږ ناره وکړه: یامعشرالانصار ای دانصارو ډلې!یا اصحاب السّمرةِ ای هغو خلکو چې دکیکر ترونې لاندې مو چې بیعت رضوان کړی ...!

چې څنګ دا اواز دهغوی غوږونو ته ورسید ټول په څو ثانیو کې بیرته ورتاو شول او درسول الله صلی الله علیه وسلم نه شاوخوا ودریدل، رسول الله هغوی ته په مشرکانو دحملې حکم وکړ، کله چې جنګ ښه تود شو رسول الله صلی الله علیه وسلم یوموټی خاوره لاس کې راوخیسته اود کافرانوپه لوریې ورشیندله: ویې وفرمایل:

شاهتِ الوُجُوهُ بد دې وي دا مخونه (مسلم).

دصحیح مسلم په بل روایت: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دیوموټی خاورې شیندلو وروسته وفرمایل:

اِنهَزموا وَربَ محمدٍ!

سوګند دی په رب دمحمد چې هغوی شکست وخوړ

هیڅ انسان داسې نه وچې دهغه په سترګوکې دخاورو ګرد نه وي پریوتی اویوه لمحه نه وه تیره شوې چې د دښمن پښې ولړزیدې ګڼ شمیرخلک یې وتښتیدل او زیات شمیریې اسیران شول الله تعالی دسورة توبې پورتني ایتونه نازل کړل

نوربیا...

ژباړه، لنډیز او ترتیب: ویس افغان

د لور او زوی توپیر...!!

د شپې ناوخته، قریباً دوه نیمي بجي وي، سپینه سپوږمۍ وه، خوب مې نا آرامه و، له کوره بهر راووتلم، زمونږ کلی چې وړوکي بازارګوتې ته ورته دی، دننه پکې یونیم دکان هم شته خو خواوشا پرې شنه کښتونه او باغونه را تاو دي، د کلي کوڅو نه بهر د کښتو او باغو پرڅوا ووتم، که ګورم ناڅاپه مې پر یو ۸۰ کلن سپین ږیري بابا سترګي ولګیدي، خواته یې نـژدي ورغلـم. لـه سـلام علیـک او جـوړ پخیـر وروسته مې تري وپوښتل، بابا څنګه په دې نیمه شپه دلته ګرځي؟ څه مشکل خو به درته پیښ نه وي؟

بابا وویل، بچیه تلیفون لـري؟ مـال هـو بابـا، جیب تـه یـې لاس کـړ، وړوکـی ټوټـه کاغـذ یـې را وایسـت، وای دا لمـبر واخلـه بچیـه، دا مـې د زوی دي، ورته ووایه، چې راشي او ما لـه ځـان سره کـور ته بوزي.

سپین ږیري بابا وویل، زما کور پـاس پـه هغـه کلي کي دی، لیه نومیږي، شاهی کوټ کلا ته نـژدي دی، اوس د شپې ډېـر ناوختـه دی تللـی نشـم، او د سوارلی کوم موټر یا بـل شـی هـم نشـته، او زه ډېـر ستړی یم.

ما یې سمدستي نمـبر را واخیسـت، بابـا مـې څنګ ته راسره کښیناوه، زوی ته مې یې زنګ ور ټبـر کړ، زوی یې ټلیفون اوچت کړ، مـال، پـلار سره دې خبري وکړه، بابا ته مې تلیفون ورکړ، بابـا پـه خـبرو ورسره لګیا شو لهجه یې زمونږ له ژبې دومره بدلـه وه چې په ډېرو کمو خـبرو یـې زه پوهیـدلم، یـوه دوې دقیقي وروسته بابا بیرته تلیفـون راکـړ، او ژړه غـونی یې مخ بلي خوا واړاوه.

زه پوه شوم چې زوی یې له راتګه نټه وکـړه، او بابا مایوسه شو، سمدستي مې بیرته د هغه نمبر ډایل کړل، څو زنګونه ورغلل، خو هغه تلیفون پـرمخ بنـد کړ.

بیا مې له بابا پوښتنه وکړه، زوی دې څـه درتـه وویل: ده ویل، زوی مې راته ویل، زه نشـم درتـلای له خوبه دې وایستلم، دالتـه چیـري شـپه تیـره کـړه،

سهار به موټر یا کوم بل شی پیدا شي، په هغـه کـې راسپور شه، خو اوس راته بیا ټلیفون ونکړي.

ما ورته وویل، بابا خیر دی ته مه خفه کیـږه زه دې خپله رسوم، ته هیڅ فکر مه کوه، بابا وویـل، نـه زه هیڅکله د داسي زوی خوا ته بیا نه ځم، چې دلتـه مړ شم هم نه ځم.

ما ورته وویل، خیـر دی بابـا تـه دا راتـه ووایـه چې دلته دې کول څه، ولي دلتـه پـاتی یـې؟ سـپین ږیري بابا وویل، دا پوري غونډې وینـي؟ مـال هـو. وای هالته مو ځمکي دي، زه هلته د خپل زوی لپـاره پخپله ځمکه کې په کښت کرهنه لګیا یم، نن کار ډېر و راباندي ناوخته سو، زه چې را روان شوم، لار رانه ورکـه شـوه، ایلـه اوس دا دی دلتـه تـر تـا پـوري را ورسیدم، هغه مې زوی داسي ځواب راکړ.

ما ورته وویل، نور اولادونه څـوک لـري؟ وای هو یوه لور مې ده هغه په پلاني کلي کـې ده، مـال د هغي نمبر درسره شته، جیب کې یې وکتل، بیا یې یو بل وړوکی ټوټه کاغذ را وایسـتی، پرهغـه یـې د لـور نمبر لیکلي وو، هغې ته مې تلیفـون وکـړ، لـور یـې ټلیفون اوچت کړ، له بابا سره مې وغږوله، بابا بیرتـه تلیفون ما ته راکړ، لور یې راتـه وویـل، چـې دا زمـا پلار دی، ته یې دالته له ځان سره وساته، کومي خـوا ته یې مه پریږده، زه په یوه ساعت کې څوک درلیږم.

ما سپین ږیری له ځان سره د خپل کور پرخـوا را روان کړ، موږ لا پرلار وو، څو شیبې وروسـته بیـا زنګ راغی، وایی هغه بابا شته، مال هـو، تـه څـوک یې؟ وای زه یې زوم یم لـه پـلاني کـلي راغلـی یـم، غواړم چې له ځان سره یې پر موټرسایکل یوسم.

ما لاره ورتـه وښـودله، او دلتـه مـې بابـا ورتـه انتظار کړ، هغه راغی، له جوړ پخیر او جریـان ویلـو وروسته یې وویل، چې لور یې ډېره پریشـانه وه، پـر ما یې داسي بده ورځ جوړه کړه چـې ژر کـوه او زمـا پلار ته ځان ور ورسوه. نو زه راغلم اوس یې له ځان سره بیـا یـم، وروسـته یـې بابـا لـه ځـان سره پـر موټرسایکل کښیناوه او ولاړ.

ما له ځان سره فکر وکړ، یو پلار چـې د خپلـو زامنو لپاره تر دومره عمره پوري د ځمکو، جایدادونو او پیسو ګټلو په لټه کـې ژونـد تیـروي خـو بـالاخره زوی ورسره داسي عمل وکړي.

او همغه پلار چې بیا خپلو لونو ته نه پـه خپـل ژوند کې له خپل جایداد څخه، څه ورکړي او نه یـې پس له مرګه په جایداد کې د میراث ورکولو وصـیت وکړي، حتی چـې د هغـي د ولـور پیسـې هـم تـري وخوري همداسي یې په خالي لاس له کوره وباسي. خو هغه لـور ورسره داسي معاملـه وکـړي. لکـه نـن چې له دغه بابا سره خپل زوی او لور وکړه.

نو له داسي زرګونو زامنو نه خو داسي یوه لور بهتره ده، کاش کې زمونږ بشري عاطفه او احساس لږ را ژوندی شي، اسلامي او انساني اقدار په ریښـتیني توګه وپیژنو.

د شهید ملاسراج الدین آخند

ژوند او کارنامو ته کتنه

سعید زرمتی

د اسلامي امارت د مؤسس ملا محمد عمر مجاهد د پوځي ذکاوت یوه نښه دا ګڼل کیږي چې نوموړي د تحریک له پیل سره د عامو طالبانو له منځه کوم خلک د نظامي مشرانو په حیث انتخاب کړي وو، ټول یې په خپلو کارونو کې پوره فعال، بریالي او اغیزناک ثابت شول. د طالبانو د تحریک له پیل سره له بیلابیلو سیمو ډلې ډلې د مدرسو طالبان راټول او په تحریک کې جذبیدل. خو مشر ملا صاحب د دوی له منځه ځینې کسان پر نورو آمرین یا ډلګي مشران ټاکل. وروسته دغه هر یو ډلګي مشر د سلګونو او زرګونو مجاهدینو د مشرانو په موقف کې راغلل. ستر ستر فتوحات یې وکړل او د اسلامي امارت د قیام لوی ارمان یې تر منزله ورساوه.

شهید ملا محمد آخند، شهید ملا رحمت الله، شهید ملا بورجان آخند، شهید ملا مشر، شهید ملا دادالله، ملا محمد فاضل مظلوم، ملا عبدالقیوم ذاکر، شهید ملا عبدالرزاق نافذ او نور ډیر هغه پیاوړي نظامي قومندانان چې د خپلو ناپایه هڅو او اخلاص په برکت یې د افغانستان خاوره د فسق او فساد، فتنو او ګډوډۍ، ټوپکسالارۍ او هرج و مرج له تیارو څخه وژغورله او د الله تعالی په نصرت یې د اسلامي نظام ډیوه روښانه کړه.

د دغو نظامي جهادي مشرانو له جملې یو هم ملا سراج الدین آخند دی، د کندهار د بولدک هغه په ونه دنګ خوشرویه طالب چې د طالبانو د پاڅون له غږ اوریدو سره یې د وړې دورې کتابونه کت کړل او ځان یې د کندهار په سنګ حصار کې د ملا محمد عمر مجاهد څنګ ته ورساوه. له هماغه ځایه یې د فساد په وړاندې مقابله پیل کړه چې بیا یې د شهادت تر نیټې نه د ستومانۍ احساس وکړ او نه یې د جهاد کړاوجن سفر عزم متزلزل کړ. راځئ یوه شیبه د دغه څښور طالب د ژوند کیسې ته سره غوږ شو.

ملا سراج الدین آخند

ملا سراج الدین آخند د ملا شرف الدین آخندزاده صاحب زوی او د شیخ مولوي عبدالصمد دیوبندي صاحب لمسی، په قوم نورزی په ۱۳۴۶ هجري شمسي کال کې د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ د پایېزو په کلي کې دنیا ته سترګې غړولي دي. د دوی کورنۍ اکثرا عالمان او طالبان وو چې په خپله سیمه کې یې د امامت او تدریس چارې

پر مخ بیولې. په همدې اساس مـلا سراج الـدین آخنـد هم له کوچنیـوالي دینـی سـبقونه پیـل کـړل. د ثـور لـه کمونیســتي کودتــا وروســته چــې د دوی کــورنۍ د پاکستان د بلوچستان ایالت ته هجرت وکړ، نومـوړي د هجرت په وطـن کـې دینـي درسـونه جـاري وسـاتل پـه چمن، کویټه، پښین او نورو سیمو کې یـې پـه بیلابیلـو مدارسـو کـې د وخـت لـه تکـړه عالمـانو علمـي اسـتفاده وکړه. او بیا یي ډیـره مـوده د افغانسـتان د سـتر علمـي شخصـیت مرحـوم مولانـا عبـدالعلي دیوبنـدي صـاحب شاګردي وکړه او علمي سلسله یې تر وړې دورې پـورې ورسوله.

جهادي ژوند

مـلا سراج الـدین آخنـد چـې ځـوان طالـب و د کمونیزم ضد جهاد په وروستیو کلونو کـې یـې د بولـدک او تختـه پـل پـه سـاحو کـې پـه جهـادي عملیـاتو کـې شرکـت کـړی و. وروسـته نومـوړی پـه خپلـه درسـونو مصروف و چـې پـه کنـدهار کـې د طالبـانو د اسـلامي تحریک د قیام غږ پورته شو. دغه وخت د نورو مدارسـو په شان د مولوي عبدالعلي دیوبندي صاحب له مدرسې څخه ډیر طالبان کندهار ته راغلـل چـې لـه جملـې یـې ملا داد الله آخنـد، مـلا رحمـت الله آخنـد، مـلا سراج الدین آخند او ګڼ نور تکړه مجاهـدین وو چـې وروسـته هـر یـوه د اسـلامي تحریـک پـه جهـادي کړښـو سـتر کردارونه ترسره کړل.

ملا سراج الدین آخندد تحریک پـه پیـل کـې لـه شهید ملا محمـد اخنـد سره د هغـو عملیـاتو برخـوال و چې د کندهار له ډنډ څخه پـه بولـدک ولسـوالۍ تـرسره شول. دوی په څو باروړونکو موټرو کې بولدک تـه لاړل او هلته یې له معمـولي جنـګ وروسـته د دې سرحـدي ولسوالۍ واک په لاس کـې واخیسـت. وروسـته چـې د ملا محمـد اخنـد پـه مشرۍ او د مـلا رحمـت الله پـه نیابت د کندهار ښار د نیولـو عملیـات کیـدل مـلا سراج الدین اخند په کـې بـارز رول درلـودل. لـه دې وروسـته نومـوړي د کندهار، هلمند او فراه پـه فتوحـاتو او جګـړو کې د یوه مهم او مطرح مشر په حیث نقش درلود.

د ۱۳۷۴ لمریز کال په اوړي کې چې د طالبـانو او تـورن اسـمعیل د قـواوو تـر مـنځ د هلمنـد پـه ګرشـک پریکنده جګـړه وشـوه او طالبـانو د هـرات پـه شـمول د هیـواد ټـول لویـدیځ ولایـات ونیـول. مـلا سراج الـدین اخند د ګرشک په دې ستر جنګ کې له شهید مـلا داد الله اخند او د باغران له شـهید مـلا خـان محمـد آخنـد سره په ګډه د عمـومي سرک لانـدې اړخ تـه د بغـرا پـه اسـتقامت پـه تعـرض کـې برخـوال و. د ګرشـک لـه شکست وروسته اسمعیل خان په دلارام، فراه او هرات کې هم پرلپسې مات شو تر دې چـې د هـرات تـاریخي ولایت د طالبانو په لاس فتحه شوه. د هـرات د فتحـې وروسـته د اسـلامي امـارت مؤسـس مـلا محمـد عمـر مجاهد دې ولایت ته سفر وکړ، د هرات په خانه جهـاد مانۍ کې یې د یـوې غونډې پـه مهـال د هـرات لپـاره ولایتي اداره وټاکله چې په دې تشکیل کـې مـلا سراج الدین اخند د هرات د ۱۷ فرقې (چـې د زلمـي کـوټ پـه فرقه سره هم شهرت لري) قومندان وټاکل شو.

مـلا سراج الـدین آخنـد لـه دې وختـه بیـا د امریکایي یرغل د پیل تر مهاله پوره شپږ کاله په هرات

ولایت کې بیلابیل نظامي مسؤلیتونه ترسره کړل. د هرات د ۱۷ فرقې مسؤلیت د د شیندې د ولسوال په حیث، د اسلام کلا بندر مسؤلیت او د شیندې د فرقې مسؤلیت هغه وظائف وو چې نوموړي په دې موده کې په پوره اخلاص او فداکارۍ سرته ورسول. نوموړی که څه هم رسمي مسؤلیت یې په هرات کې و. خو نظامي فعالیت یې لومړی ډیره موده د بادغیس او فاریاب په جنګي کړښو کې او وروسته د غور ولایت په بیلابیلو سیمو کې ترسره کاوه. نوموړی د شمال ولایاتو د هغو سترو عملیاتو برخوال و چې مجاهدینو له فاریاب څخه پیل کړل او بیا د جوزجان، بلخ، سمنګان، بغلان او بامیانو په فتحو سره تکمیل شول.

د امریکایانو خلاف جهاد

د سبتمبر د یوولسمې له حملو وروسته چې کله د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش په افغانستان برید پروګرام جوړ کړ، جنګي بیړۍ یې د عربو بحیرې ته راوستې، د پاکستان او ازبکستان په شمول یې د سیمې او نړۍ ګڼ هیوادونه له ځان سره ملګري کړل. داسې فکر کیده چې امریکا به د پاکستان له ارخه افغانستان پوځونه او خپل ګودګیان داخل کړي. ملا محمد عمر مجاهد د همدې یرغل د دفاع په خاطر په جنوب کې د پوځي تشکیلاتو په ځواکمنۍ کار پیل کړ. په دې لړ کې یې ملا سراج الدین اخند له هرات څخه کندهار ته راوغوښت تر څو د بولدک په سرحدي ولسوالۍ کې د ولسي مجاهدینو په جلب او تنظیم سره جهادي تشکیلات برابر کړي.

ملا سراج الدین او جهادي ملګري یې د امریکایي یرغل په لومړیو ورځو کې په بولدک کې ول. خو کله چې د شمالي ولایاتو د سقوط په تعقیب په هرات ښار کې ناڅاپه بلوا جوړه او مجاهدینو د هرات په ولایت کنترول له لاسه ورکړ. ملا سراج الدین او ملګري یې د ملا صاحب په امر بیرته د هرات شیندې ته لاړل. تر څو د ښار د بیرته نیولو هڅه وکړي. خو دغه وخت چې امریکایي بمبار په قوت روان و او مجاهدینو د یوه جهادي تاکتیک په حیث له ښاري سیمو شاتګ غوره باله دوی هم له هرات څخه بیرته د کندهار بولدک ته راستانه شول.

کله چې ګل اغا شیرزی د امریکایانو سره یو ځل د ارغسان ولسوالۍ د شنه نري له استقامته تخته پل ته راغی، ملا سراج الدین او ملګرو یې د بولدک له ارخه وربانديې حمله وکړه. په دې عملیاتو کې امریکایي الوتکو د نوموړي څو موټر او یوه دوه میله دستګاه بمبار کړه او مجاهدین بیرته شاتګ ته اړ شول. د کندهار او بولدک له سقوط وروسته ملا سراج الدین اخند اراده درلوده چې د بولدک په یوه غرنۍ ساحه (سرو ګارو) کې جهادي مرکز جوړ کړي، دې سیمې ته یې مجاهدین لاړل خو وروسته یې دا غوره وبلله چې د ثابت مرکز په ځای چریکي او خوځنده جهادي عملیات پیل کړي.

د امریکا ضد د پیل کلونوکې نوموړی که له یوې خوا د اسلامي امارت له نائبانو ملا برادر آخند، ملا عبیدالله اخند او نورو نظامي مشرانو سره په مشورتي مجالسو او غونډو کې ګډون کاوه او د جهادي فعالیت

د تقـویې لارې چـارې یـې سـنجولې، دغـه راز یـې د نظامي کمیسیون غړیتوب هم درلـود او مجاهـدینو یـې پـه بولـدک ولسـوالۍ کـې یـې پـه دښـمن چـاودنې او بریدونه ترسره کول. له دې جملې یو مهـم جنـګ چـې په ۲۰۰۳ م کال کې د بولـدک د شـیرو اوبـو پـه سـیمه کې د داخلي ګوډاګیانو په پوستو هغـه سـتر عملیـات و چې ملا سراج الدین، شهید مـلا شـهزاده، مـلا محمـد امـین یوسـف او ګڼـو نـورو مجاهـدینو پـه کـې ګـډون درلود. د دښمن دري موټر لـه منځـه لاړ او ګـڼ کسـان یې ووژل شول چې دا د پیل پـه هغـو کلونـو کـې سـتره جهادي بریا وه.

جهادي مسؤلیتونه او شهادت

د ملا سراج الدین آخند د ملګرو له قوله نومـوړي دا خصوصـیت درلـود چـې د کـوم منصـب مسـؤلیت یـا مشري یې نه قبلوله. د اسلامي امارت د واکمنۍ د دور غوندې د امریکا ضد جهاد پـه دور کـې هـم نومـوړي د لویو مسؤلیتونو په ځای همیشه دې تـه تـرجیح ورکولـه چې د یوه فرد په حیث جهاد وکړي. په دې مرحله کـې نومورې یوازې دوه ځلـه جهـادي مسـؤلیت تـرسره کـړ، چې لومړی ځل په ۲۰۰۶ میلادي کال کـې د بولـدک، تخته پل، ارغسان او معروف ولسوالۍ عمـومي مسـؤل و او بیا په ۲۰۰۷ کال کې د ژړۍ ولسوالۍ په پاشـمول کې د مجاهدینو عمومي مسؤل وټاکل شو. په پاشـمول کې د مسؤلیت په مهـال نومـوړي د ظـاهري لبـاس پـه بدلون او د یوه عام سـړي پـه شـکل کـې ډیـره مـوده د کندهار ښار په داخل کې وخت تیراوه چې دا د نومورې په ژور تدبیر او زړورتیا دلالت کوي.

په وروستیو کلونو کې د نومـوړي جهـادي ملګـرو له بولدک علاوه په خاکریز ولسوالۍ کـې هـم جهـادي فعالیت کاوه. د نومورې په ټینګار د بولـدک ولسـوالۍ د شلګزي غرنۍ سیمه د مجاهدین د مرکز په حیث تعین شوه چې له همدې ځایـه د کنـدهار پـه بیلابیلـو سـیمو کې عملیات ترسره کیدل.

مـلا سراج الـدین آخنـد د ۲۰۱۱ مـیلادي کـال د جون میاشتې په شپږمه نیټه له یـوه بـل ملګـري سره د بولدک شلګزي سیمې ته نږدې د ونکې پـه سـیمه کـې په موټر سایکل روان و، چې د امریکایانو له ګزمې سره مخـامخ شـو. پـه متقـابلو ډزو کـې مـلا سراج الـدین او ملګری یـې شـهید او جسـد یـې د امریکایـانو لاس تـه ورغی.

د کنـدهار د سرحـدي ځواکونـو قومنـدان جـنرال رازق چې د ملا سراج الدین پـه شـهادت خـبر شـو، نـو اراده یې وکړه چې د نومورې جسد اهانتـا پـه د بولـدک په چوک کې را ځوړند کړي. خودا چې ملا سراج الدین اخند په سیمه کـې د یـوه مخلـص مجاهـد او غیـرتمن افغان په حیـث شـهرت درلـود، ولسي ـ خلکـو د جـنرال رازق د دې اقدام مخنیـوی وکـړ، د نومـوړی جسـد یـې ترلاسه او بیا یې د وت غـره تـه نـږدې پـه خپـل پلـرني کـلي (پـاییزو) کـې لـه درنـو مراسـمو او لـویې جنـازې وروسته خاورو ته وسپاره.

انا لله و انا الیه راجعون

جنګي جنایتونه (سپټمبر)

سید سعید

د ۲۰۱۹ز، کال د سپټمبر د میاشتې په لومړۍ نیټه د فاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ مرکز ته څېرمه دحکومتي ځواکونو په بمبار کې دښځو او ماشومانو په ګډون دوولس تنه ملکي وګړي شهیدان او اته نفره ټپیان شوي دي. د فاریاب د ولایتي شورى غړي صبغت الله سیلاب هم ذکر شوې ولسي مرګ ژوبله تائید کړې ده.

د سپټمبر په لومړۍ نیټه دهلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ په انځرشالي سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې دوه تنه ملکي وګړي چې پر موټر سایکل سپاره وو، شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په لومړۍ نیټه دارزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ په ساخر سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو پر یو مسجد چاپه وهلې، دملا امام په ګډون یې شپږ تنه طالب العلمان شهیدان کړي دي. همداراز د همدې ولسوالۍ په خایکلان سیمه کې هم دیرغلګرو په بمبا رکې دوه تنه سپین ږیري شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په لومړۍ نیټه د میدان وردګ ولایت د سید اباد ولسوالۍ د تنګي په امیر کلا سیمه کې اشغالګرو دملکي خلکو پر کورونو بمبار کړی، په دې هوایې برید کې دوولس تنه ماشومان شهیدان او ټپیان شوي دي.

د سپټمبر په ۲مه د بدخشان ولایت د جرم ولسوالۍ په شفچان سیمه کې یرغلګرو پر یو مسجد ډرون برید کړی، چې له امله یې جومات او درې تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي دي.

دسپټمبر په ۳مه دهرات ولایت دشیندنډ ولسوالۍ د قلعه رحمدل په سیمه کې دحکومتي قواوو د ډیسي- توپ په ډزو کې درې میرمنې شهیدانې شوې او دوه سړي ټپیان شوي دي.

د سپټمبر په ۴مه د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار د درېیمې ناحیې په عربانو کلي کې دصفر ۲ قطعي عسکرو څلور تنه ملکي وګړي: (قاضي قادر، جهانزیب زاخېلوال، صبور زاخېلوال او بهادر زاخېلوال) په خپل کور کې شهیدان کړي دي.

د سپټمبر په ۴مه د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ په بازار باندې دصفر یک عسکرو چاپه

ځواکونو دتوپچي په بریدونو کې د ښځو او ماشومانو په شمول لس تنه ملکي وګړي شهیدان او ژوبل شوي دي.

وهلې، پنځه دوکانونه یې وران کړي او شپږ تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي دي.

د سپټمبر په ۵مه د ارزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ په سیګزي او زمبوري سیمو کې د یرغلګرو او داخلي عسکرو په چاپه او بمبار کې شپږ ویشت تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي او درې کورونه ویجاړ شوي دي.

د سپټمبر په ۵مه د ارزګان ولایت د خاص ارزګان ولسوالۍ د شیخي، نیکروز، بادینزو او شیخانو په سیمو کې یرغلګرو بمبار کړي، په دغه بمبار کې یوولس تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۶مه د بدخشان ولایت د وردج ولسوالۍ په مربوطاتو کې یرغلګرو پر یو کور بمبار کړی، چې له املې یې د ښځو او ماشومانو په ګډون د یوې کورنۍ شپږ تنه هیوادوال شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۶مه دارزګان ولایت د مرکز ترینکوټ دحاجي محمدنبي خان پر اډه یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، نولس دوکانونه او دملکي خلکو لسګونه نقلیه وسایط یې سوځولي دي.

د سپټمبر په ۶مه د زابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ په بازار کې دیرغلګرو په هوایي حمله کې شپږ تنه ملکي وګړي چې د یو دوکان مخې ته ناست وو، شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۷مه د کندزولایت مرکز چرخاب اوشورابي قشلاق سیمو کې دحکومتي

د سپټمبر په ۷مه د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په دولت خان سیمه کې دیرغلګرو په بمبار کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۷مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ حیات پله ته نژدې یرغلګرو د ملکي خلکو د سپرلۍ پر موټر هوایي برید کړی، چې له املې یې موټر ویجاړ او پکې سپاره درې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۱۰مه د غزني ولایت د ګیرو ولسوالۍ ده سي کلي باندې ګډو ځواکونو چاپه وهلې، ددوو ملا امامانو په ګډون یې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او دوه تنه ژوبل کړي، همدرنګه ګډو ځواکونو په دې چاپه کې دوه مسجدونه، یوه مدرسه او دوه کورونه ویجاړ کړي دي.

د سپټمبر په ۱۲مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ په احمد زیو کلي باندې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال دوه ملکي وګړي شهیدان کړي او لس تنه نور یې بنیدیان کړي دي.

د سپټمبر په ۱۳مه د جوزجان ولایت د قرقین ولسوالۍ په دینار کلي کې دګډو ځواکونو په توغندیز برید کې یو کور زیانمن شوی او یو ملکي وګړی پکې شهید شوی دی.

د سپټمبر په ۱۳مه دهرات ولایت د رباط سنګي ولسوالۍ د ګنج په سیمه کې دحکومتي ځواکونو په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان او درې تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

د سپټمبر په ۱۳مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د غزني ولايت د مقر ولسوالۍ په عظيم الدين چمبر، سره کلا او اربيګ کلا باندې چاپې وهلې، ګډو ځواکونو په اربيک کلا کې يو باب مسجد سوځولی، د کورونو دروازې يې په بمونو الوزولې، نغدې پيسې، او قيمتي شيان يې ترې وړي او دولسي- خلکو پنځلس عرادې نقليه وسائط يې سوځولي دي.

دسپټمبر په ۱۶مه دکندهار ولايت دشاولیکوټ ولسوالۍ د ميان په سيمه کې يرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال يوه ميرمن شهيده او بله ژوبله کړې او درې تنه کليوال يې د بنديانو په توګه له ځان سره وړي دي. همداراز په دې چاپه کې ګډو ځواکونو دولسي خلکو دوه کورونه منفجر کړي او دخلکو نقليه وسايط يې سوځولي دي.

د سپټمبر په ۱۹مه د لوګر ولايت مرکز اړوند کمالخيلو سيمه کې يرغلګرو پر يو مسجد بمبار کړی، کومو خلکو چې تر بمبار وروسته د شهيدانو د رايستلو هڅه کړې، پر هغوی هم بمبار شوی، په دواړو حملو کې اووه تنه ولسي- وګړي شهيدان شوي دي.

دسپټمبر په ۱۹مه دهلمند ولايت د نادعلي ولسوالۍ د نري مانده په سيمه کې په يو هوايې برید کې دوه ماشومان شهيدان شوي دي.

د سپټمبر په ۱۹مه د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ د وزيرو د تور اوټ په سيمه کې يرغلګرو او حکومتي عسکرو د چلغوزيو په راټولونکو کاريګرو بمبار کړی، دننګرهار دولايتي شورى غړي اجمل عمر په وينا په دغه بمبار کې ځلوربښت تنه ملکي هيوادوال شهيدان او ديرش نور ژوبل شوي دي.

د سپټمبر په ۲۲مه ماښام مهال دهلمند ولايت د موسى کلا ولسوالۍ دکونجک او شواروز سيمو کې ديرغلګرو او حکومتي عسکرو په چاپه او بمبار کې درو نوي (۹۳) تنه ولسي هيوادوال چې زياتره يې ښځې او ماشومان دي شهيدان او ټپيان شوي دي، حکومت ويلي چې په دې عملياتو کې يې طالبانو ته لوی زيان اړولی، خو د ولسي- وګړو، قومي مشرانو او دهلمند دولايتي شورى د غړو په وينا برید د واده په مراسمو شوی چې له املې يې ټول زيان ملکي وګړو ته رسيدلی دی، همداراز په دې عملياتو کې دواده دمراسمو درې موټر او شپږ کورونه ويجاړ شوي دي.

د سپټمبر په ۲۴مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ په جوی چهار کلي چاپه وهلې، دوه مسجدونه او يو کور يې ويجاړ کړي، د دوو ښځو په شمول يې څلور تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان کړي دي.

د سپټمبر په ۲۸مه د غزني ولايت د خواجه عمري ولسوالۍ په ده حاجی کلي کې ديرغلګرو په ډرون حمله کې شپږ تنه ملکي وګړي شهيدان شوي دي.

د سپټمبر په ۲۹مه دغور ولايت د چهارسدي ولسوالۍ د قلعه ګوهر په سيمه کې د حکومتي ځواکونو په بمبار کې يو مسجد ويجاړ شوی او خلکو تهمالي زيانونه اوښتي دي.

د سپټمبر په ۳۰مه د زابل ولايت د شاجوی ولسوالۍ د ګاډو کلي کې دحکومتي ځواکونو دهاوان په ډزو کې څلور تنه ملکي وګړي شهيدان او ژوبل شوي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډيو، ازادي =، افغان اسلامي اژانس، پژواک =، خبريال ويبپاڼه، لراوبر=، نن ټکی اسيا=اوبينوا=]

د مورچل وږمي

شعر

هلال

دغه چې نن يې ترهګر يادوې
څه موده پس به يې رهبر يادوې

چې ورته ګورې ته په سپکه سترګه
بيابه يې تل د زړګي سر يادوې

تېرله خپل سر ده د قران لپاره
نوبيايې څنګه دهشتګر يادوې

ته خوبدبخته يې غلام د نورو
څنګه بيا بد د بختور يادوې

هر يو سرځورې ته سينه ډبوي
تل ورته توره او خنجر يادوې

هلال خوازک يې ده راتلو په هيله
ګران امارت په زړه اکثر يادوې

غزل

ثناء الله معصوم

تا زخمي کړلې سينې د توتکيو
تا اخيستی ژوند ټپوسه دمرغيو
تا ازار وړی خزانه د دې کلي
د ګلونو، د ګودر او د منګيو
پوروړی يې خونخواره پور به ورکړې
په دې چم کې ها د ګل غوندې سړيو
بيا چاپه وه په دې چم کې په مظلومو
راته غږ ترې ټوله شپه دسلګکيو
پرې ټپي شم پرې ټپي شمه طالبه!
چې دې غږ راشي له ټپه د زګرويو
مينه ناکه او ښايسته طالبه راشه
چې ساتلې مې ګيډۍ د سپيلنيو
د معصوم دنيا خو ته يې که ته نه وې
بيا مې مه غواړه د ژوند په رنګينيو

ازادی

مولوي کامران

ازادی زه دي دميني ليونی يم
ازادی زه دي په نوم باندي مين يم
ازادی يواري ټينګه غيږه راکړه
ازادی زه به دي ښکل کړمه په مينه
ازادی له ډيره وخته مسافر وم
ازادی په تورو غرونو کې مې شپې وې
ازادی زه دي رخسار باندي مين يم
ازادی ته مې په وينه يې عاشقه
ازادی اوس خومې پيژنې چې زه يم
ستالپاره له خپل کلي يم راغلی
راتيرسوی يم له لوړوله ژورو
اوس مې وګوره په پښوکې مې ازغي دي
اوس مې وګوره په زړه پرهر پرهر يم
نور ځنډمه کوه ازار راځخه اخلی
لږ مې څنګ سره دمه کړه ډيرستومان يم
شبګيرې مې ستالپاره کړلې تيرې
ګوره زه دي سپين رخساريادي مين يم
تل مې ته له خدايه غوښتې ميدانوکې
ما د تورو په سايوکې لټولې
ماپه غرواوسنګروکې لټولې
ازادی زه خو دا ستا دغاړې هار يم
ازادی ماوه اوربل ته درنزدې کړه
ازادی دا اخيري ارمان زماده
ازادی چې دي په غيږه کې ويده سم
ګوره بيامې ترقيامته راويښ نه کړې
ستاله سپينو اننګو څخه قربان سم
ازادی کامران په تاپسي ليونی شوم
ګوره تاپسي دميني سپيلنی شوم
ازادی يواري ټينګه غيږه راکړه
ازادی زه به دي ښکل کړمه په مينه
ازادی زه به دي ښکل کړمه په مينه

شعر

انس حقاني

په سيف دژبې دهيڅا په پت حمله مه کوه
د چا له ښو اخلاقو سوء استفاده مه کوه
د ژبې توره د چوپتيا په تيکي پټه ساته
دخلکو زړونه پرې ټپي نه کړې غصه مه کوه
دعرش څښتن دې ګام په ګام ګوري او څار دې کوي
د معصيت د ارتکاب هيڅ اراده مه کوه
چې دزړه سترګې دې ړندې نشي دحرص په غشو
د دنيوي فاني ښکلا مراقبه مه کوه
اول پرې فکر کوه، خير شر يې معلوم کړه درته
بې فکره هيڅکله هيڅا ته هم کيسه مه کوه
له ناکامۍ او ندامت که ځان ساتل خوښوې
په وخت د قهر او شهوت کې فيصله مه کوه
که داحسان غشي دي وارکړل دحاسد په لوري
بس تري بې غمه شه، د شر يې اند ښښنه مه کوه
ستا له شرف سره انسانه حقيقت ښاييږي
د زړه نظر دې دمجاز په آيينه مه کوه
چې ملګرتيا پاللی نشې نو يې مه جوړوه
چې د تعميل وړتيا يې نلرې وعده مه کوه
دمحبت راج که د خلکو په زړو غواړې اشنا
دبل په کار کې بې اړتيا مداخله مه کوه
انسه ! مرسته تل له خپل پروردګاره غواړه
په مادياتو خو هيڅکله هم تکيه مه کوه

۲۰۱۹ زکال

دسپتمبر د میاشتې جهادي خبرونه



کابل

کلکانو کې پوسته سوځول شوې، ۳ عسکر وژل شوي دي

د کابل ولایت د کلکانو ولسوالۍ اړوند قلعه چهارتوت سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو چې په ترڅ کې یې د دښمن پوسته وسوځېده او ۳ عسکر ووژل شول. ۱/۹/۲۰۱۹

قرباغ کې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د قرباغ ولسوالۍ اړوند بګرام سړک باندې د عسکرو د تالاشۍ په ځای کې تکتیکي چاودنه وشوه چې له املې یې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول. ۱/۹/۲۰۱۹

پغمان کې رینجر تخریب، ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند زرسنګ سیمه کې د اردو په رینجر چاودنه وشوه چې له املې یې رینجر تخریب او ۳ عسکر مړه او ژوبل شول. ۱/۹/۲۰۱۹

خاکجبار کې په پوستو برید کې ۵ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ اړوند سیمه کې د دربند او ببرو سربند په نوم د دښمن په پوستو بریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې ۵ عسکر مړه او ژوبل شول.۲/۹/۲۰۱۹

قرباغ کې ۱ عسکر ووژل شو

د غزني ولایت د قرباغ ولسوالۍ اړوند ماشین آب پوستې په یو تن عسکر باندې برید وشو چې په ترڅ کې یې یاد ګوډاګی ځای په ځای ووژل شو. ۳/۹/۲۰۱۹

ګرین ویلیج کې لسګونه تنه بهرني اشغالګر مړه او ژوبل شول، درانه مالي زیانونه هم ورته واوښتل

د کابل د نهمې حوزې اړوند قابل بای سیمه کې د بهرنیو اشغالګرو تر ټولو مصئونه سیمه کې (ګرین ویلیج ــ زرغون کلی) استشهادي عملیات ترسره شول، بریدونه د فدایي مجاهد ملا انس هلمندي لخوا د لوی موټر بم په وسیله پیل شو، دبرید له املې د بهرنیو ځواکونو اکثره د استوګنې ځایونه، خوب خونې، دفترونه او نظام قراولونه له منځه لاړل او نورو استشهادي مجاهدینو (ملاانس د هلمند، مجتبی د میدان وردګو، محمد د غزني، حافظ احمد د پکتیا او ابراهیم د کابل) ته د داخلیدو لاره پرانستل شوه، استشهادي مجاهدین وتوانیدل چې د خارجي اشغالګرو تر خوب خونو او استوګن ځایونو پورې ځانونه ورسوي، او په باقي پاتې دښمن باندې تر سهاره مرګوني ګوزارونه ترسره کړي، د اشغالګرو اړوند په ګرین ویلیج ساحه کې داستوګنې ۱۸۰۰ خونې موجودې وي او دا ځای د اشغالګرو اړوند د استخباراتي غونډو له عمده مراکزو څخه وو، استخباراتي کارکوونکو، قراردادیانو او لوړ پوړو بهرنیو افسرانو پکې د معلوماتو د راکړې ورکړې غونډې جوړولې.همدا ډول په دې ساحه کې تر ۵۰۰ پورې اشغالګر اوسیدل چې د درنې چاودنې او وروسته خونړۍجګړې په ترڅ کې پکې لسګونه تنه اشغالګر ووژل شول اوګڼ ټپیان شول، د اشغالګرو اړوند تلفات له رسنیو او کورنیو غلامانو څخه پټ ساتل کیږي خو استشهادي مجاهد په مخابروي اړیکه کې وایي چې د موټر بم برید سره ډیر زیات شمیر خارجیان مړه دي باقي پاتې خارجیان چیغې وهي اوس یې مور هم په وژولو بوخت یو. ۳/۹/۲۰۱۹

خاکجبار کې برید دښمن ته مرګ ژوبله واړوله

د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ اړوند خواجه خلیل بیس باندې د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې په مهال یې ګوډاګیو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۳/۹/۲۰۱۹

چهاراسیاب کې په پوسته برید کې ۲ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د چهار اسیاب ولسوالۍ اړوند للندر سیمه کې د پولیسو په پوسته برید وشو چې په ترڅ کې یې د کابل اداري ۲ عسکر مړه او ژوبل شول.۴/۹/۲۰۱۹

ده سبز کې د جاسوسي شبکې مهم کارمند ووژل شو

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ اړوند سورکي کلي ته څېرمه د جاسوسي شبکې په کارمند (ملک لالو) باندې برید وشو چې پر مهال یې یاد ګوډاګی ژوبل شو.۵/۹/۲۰۱۹

شکر دره کې چاودنې د دښمن رینجر تخریب کړ

د کابل ولایت د شکر دري ولسوالۍ اړوند ګلدرې سړک سیمه کې د اردو په رینجر چاودنه وشوه چې له املې یې د دښمن رینجر تخریب او پکې سپرو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته . ۵/۹/۰۱۹

د کابل ښار ۹ حوزه کې په اشغالګرو استشهادي برید ترسره شو

د کابل ښار ، ۹ حوزې اړوند د کابل اداري د جاسوسي شبکې د ځلویښتم ریاست په نظامي قرول کې د بهرنیو اشغالګرو په کتار د یو تن قهرمان فدایي مجاهد ملا محمدعمر پکتیاوال لخوا هغه مهال موټر بم برید وشو چې د اشغالګرو موټر یاد ریاست ته د ننوتلو په حال کې وو، په برید کې د اشغالګرو ۳ لنډ کروزر موټر په بشپړ ډول ویجاړ شوي، په برید کې ۱۲ تنه بهرني اشغالګر او د کابل د امنیت مرستیال ادریس په ګډون ۸ تنه داخلي عسکر ووژل شول اویو شمیر ټپیان شول. . ۵/۹/۲۰۱۹

موسهي کې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اړوند زړې کلا سیمه کې د کابل رژیم په
عسکرو برید وشو چې په ترخ کې یې ۳ عسکر مړه او ژوبل شول.
۶/۹/۲۰۱۹

قرباغ کې د اربکیانو قومندان ووژل شو

د کابل ولایت د قرباغ ولسوالۍ اړوند بنګوړک سیمه کې د قرباغ ولسوالۍ د اربکیانو په قومندان (سبزعلي) باندې برید وشو، په برید کې یاد ګوډاګی قتل او ساتونکی یې ژوبل شو.۷/۹/۲۰۱۹

پغمان کې پر پوسته برید ۱ عسکر وژلی

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند ارغندۍ سیمه کې د دښمن په پوسته د لیزري توپکو په مټ برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ عسکر ووژل شو.۷/۹/۲۰۱۹

کابل ښار ۸ حوزه کې د کابل اداري افسر ووژل شو

د کابل ښار ۸ حوزې اړوند بني حصار سیمه کې د شفیق الله منګل په نوم یو تن ګوډاګی افسر باندې برید وشو چې ځای په ځای ووژل شو. ۷/۹/۲۰۱۹

پغمان کې چاودنې عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند بره ارغندۍ سیمه کې د کابل اداري په عسکرو برید وشو چې په ترخ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۸/۹/۲۰۱۹

پغمان کې د دښمن په بیس برید وشو

د پغمان ولسوالۍ اړوند بره ارغندۍ ځوکې سیمه کې د اردو په بیس د لیزري توپکو برید وشو چې په ترخ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۹/۹/۲۰۱۹

د موسهي په امنیه قومندانۍ توغندیز برید وشو

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ په قومندانۍ ۲ توغندي وویشتل، په برید کې دواړه توغندي په تاکلي هدف ولګېدل چې له املې یې په قومندانۍ کې اور ولګېد. ۹/۹/۲۰۱۹

پغمان کې ۲ عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند بره ارغندۍ کې د ځوکې په بیس برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ عسکر قتل او یو بل ژوبل شو.۱۰/۹/۲۰۱۹

سروبي کې د کابل رژیم ۲ کارکوونکي له مجاهدینو سره یو ځای شول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ په مربوطاتو کې د ځدران طاوس ، محمداغا او خلیل احمد په نوم ۴ تنه چې دوو یې د پولیسو، ۱ یې د عسکر او ۱ تن یې د کماندویي په حیث وظیفه درلوده د دعوت او ارشاد کمیسیون د مسؤلینو په زیار له مجاهدینو سره یو ځای شول.۱۱/۹/۲۰۱۹

کابل په ریشخورو کې د مزدور دښمن په قرارګاه کې دننه فدایي برید تر ۲۰۰ کماندو عسکر مړه او ژوبل کړل

د کابل ولایت اړوند ریشخورو سیمه کې د کابل اداري د کماندو په نامه مزدورو عسکرو په قرارګاه کې دننه قوي موټربم برید وشو، برید د قهرمان فدایي مجاهد ملا احمد وردګ لخوا د منفجره موادو څخه د ډک هغه موټر په مټ ترسره شو چې په موټر کې ګڼ شمیر کماندو عسکر هم ورسره سپاره وو او د قرارګاه منځ ته داخل شوی و، په قرارګاه کې د کماندو عسکرو هغه ۲۰۰ تنه عسکر په نښه شول چې د نورو موټرو ورتګ ته انتظار وو او د عملیاتو لپاره مختلفو ساحوته استول کیدل، د برید له املې ټول عسکر مړه او ټپیان شول او د قرارګاه اکثره برخه ونړېده. ۱۲/۹/۲۰۱۹

قره باغ کې رینجر تخریب، عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند باغ عارق سیمه کې د مزدوري اردو په رینجر برید ترسره شو چې په ترخ کې یې د دښمن رینجر تخریب، خو عسکرو ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۳/۹/۲۰۱۹

موسهي کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اړوند عبدالرؤف کلا سیمه کې د مزدور رژیم په پوسته برید وشو چې په ترخ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته . ۱۳/۹/۲۰۱۹

موسهي کې په پوسته برید ۱ عسکر وژلی

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اړوند کوز قشلاق سیمه کې د مزدور دښمن په پوسته برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ تن مزدور عسکر ووژل شو. ۱۶/۹/۲۰۱۹

په کابل د فدایي برید له املې لسګونه د کابل اداري عسکر او امنیتي کسان ووژل شول

په کابل ښارکې د دفاع وزارت د پیژندتون ریاست په دروازه کې په راټولو شوو افسرانو او عسکرو باندې داستشهادي مجاهد محمد لخوا فدایي برید ترسره شو چې له املې یې لسګونه تنه د دفاع وزارت اړوند لوړ پوړي افسران، عسکر او کارمندان مړه او ژوبل شول. ۱۷/۹/۲۰۱۹

موسهي کې په پوسته برید ۱ عسکر وژلی

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اړوند کټه سنګ پر پوسته بریـد ترسره شو چې په تـرڅ کـې یـې ۱ تـن مـزدور عسـکر ووژل شـو. ۱۸/۹/۲۰۱۹

چهاراسیاب کې د جاسوسي شبکې په موټر چاودنې ۴ کارمندان مړه او ژوبل کړل

د کابل ولایت د چهاراسیاب ولسوالۍ اړوند بازار د مدرسې سیمه کې د جاسوسي شبکې په رینجر چاودنه ترسره شوه چې لـه املـه یې د دښمن رینجر تخریب، ۴ تنه مـزدور کارمنـدان مړه او ژوبـل شول. ۲۰/۹/۲۰۱۹

خاکجبار کې دښمن له شکست سره مخ شو

د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ اړوند دربند کلي ته ځېرمـه پـه هغـو ګوډاګیـانو بریـد تـرسره شـو چـې سـیمې تـه راغـلي وو، پـه بریدونو کې دښمن ته مـرګ ژوبلـه واوښـته او د تېښـتې لاره یـې خپله کړه. ۲۰/۹/۲۰۱۹

کابل کې رینجر تخریب، ۴ ګوډاګیان مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د ۱۱ حوزې اړوند سیمه کې د پولیسو په رینجـر چاودنـه وشوه چې له املـه یې یو رینجر تخریب، ۴ مـزدور پـولیس مـړه او ژوبـل شول. ۲۱/۹/۲۰۱۹

چهاراسیاب کې د جاسوسي شبکې موټر تخریب، ۴ ګوډاګیان مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د چهاراسیاب ولسوالۍ اړوند سیمه کې د مـزدور رژیـم د جاسوسي شبکې په موټر چاودنه وشوه چې له املـه یـې د دښـمن مـوټر تخریب، د ډګر فدا پنجشیري په ګډون ۲ کارمنـدان قتـل او ۲ نـور ژوبـل شول. ۲۱/۹/۲۰۱۹

ده سبز کې پوسته فتحه، ګڼه وسله غنیمت او ۳ عسکر ونیول شول

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ په شاه محمود کـلا سـیمه کـې د ګوډاګیو عسکرو په پوسته بریـد کړی او پـه پایلـه کـې یـې پوسـته فتحه شوه، په پوسته کې ۳ تنه عسکر ژوندي ونیـول شـول او نـور وتښتېدل، دغه راز ۳ میله کلاشنکوفونه، ۱ راکټ لانچر او ۵ مرمـۍ یې، ۳ زغرې، ۴ چانټې او ګـڼ نـور مهـمات د مجاهـدینو لاس تـه ورغلل. ۲۰۱۹-۰۹-۲٤

کابل ښار کې د جاسوسي شبکې ډګروال ووژل شو

د کابل ښار ۱٦ حوزې اړوند قلعه زمان خان سیمه کـې د شـاه رسـول پـه نوم د مزدور رژیم د جاسـوسي شـبکې ۱ تـن ډګروال ځـای پـه خـای ووژل شو. ۲٤/۹/۲۰۱۹

موسهي کې ۱ مزدور عسکر ووژل شو

د کابل موسهي ولسوالۍ اړوند کټه سـنګ پوسـتې پـه یـو تـن عسـکر د لیزري توپک بریـد وشـو چې په مهال یې یـاد ګـوډاګی ځـای پـه ځـای ووژل شو. ۲٤/۹/۲۰۱۹

کابل ښار کې چاودنې ۲ اربکیان ژوبل کړل

د کابل ولایت د ۵ حوزې اړونـد کوټـه سـنګي سـیمه کـې پـه اربکیـانو تکتیکي چاودنه وشوه چې لـه املـه یـې ۲ تنـه شریـر اربکیـان مرګـوني ژوبل شول. ۲۵/۹/۲۰۱۹

موسهي کې ۴ مزدور عسکر مړه او ژوبل شول

د کابل ولایت د موسهی ولسوالۍ اړوند قشـلاق پوسـته بانـدې د لیـزري توپکو بریـد وشـو چې په ترڅ کې یـې ۳ مـزدور عسـکر قتـل او ۱ ژوبـل شو. ۲۵/۹/۲۰۱۹

کابل مرکز کې اربکی قومندان ووژل شو

د کابـل ښـار، ۳۱۵ سـاحې پـه دشـتل کوڅـه کـې د قومنـدان عبدالستار په زوی اربکي قومندان عبدالحي باندې چریکـي بریـد وشوچې ځای په ځای ووژل شو. ۲٦/۹/۲۰۱۹

پغمان ولسوالۍ ۲ مزدور عسکر ووژل شول

د کابـل ولایـت د پغـمان ولسـوالۍ اړونـد بـره ارغنـدۍ تـه ځېرمـه پربکړې سیمه کې د مزدور دښمن پـه عسـکرو د درازکـوف بریـد وشـو چـې پـه تـرڅ کـې یـې ۲ تنـه مـزدور عسـکر ووژل شول. ۲٦/۹/۲۰۱۹

موسهي کې ۳ مزدور عسکر ووژل شول

د کابل ولایت د موسـهي ولسـوالۍ اړونـد سـید خیلـو د انتخابـاتي مرکز په

عسکرو د درازکوف بریـد ترسره شو چـې پـه تـرڅ کـې یـې د یـاد مرکـز سـاتونکي ۳ عسـکر ووژل شـول او یـو تـن ژوبـل شـو. ۲٦/۹/۲۰۱۹

شکر دره کې په دښمن کمین بریـد ترسره شو

د کابل ولایت د شکر درې ولسوالۍ اړوند ثنا خیلـو سـیمه کـې د سیاه سنګ په سړک د مزدوري اردو په رینجر کمـین بریـد تـرسره شو چې په ترڅ کې یې رینجر تخریـب، خـو دښـمن تـه د اوښـتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۷/۹/۲۰۱۹

سروبي کې دښمن د خلکو کورونه ویجاړ کړي، وسائط سوځولي دي

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند وزبین درګو کلي بانـدې د صفریک په نوم مزدورو توپکیانو وحشیانه چاپه ووهلـه، دښـمن د اولسي خلکو کورونه ویجاړ کړل، نقلیه وسائط یې له وسـوځول او

د خلکو لـه کورونـو یـې پیسـې او قیمتـي اجنـاس غـلا کـړل. ۲۷/۹/۲۰۱۹

ده سبز کې رینجر تخریب، ۲ پولیس ووژل شول

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ اړونـد شـاني کـلا سـیمه کـې د مزدورو پولیسو د ګزمې په موټر چاودنه ترسره شوه چې له املـه یې د دښمن رینجر تخریب، ۲ مزدور پولیس ووژل شول.۲۸/۹/۲۰۱۹

پلچرخي کې ټاکنیز مرکز له منځه یووړل شو

د کابل ښار ۲۱ حوزې اړوند پلچرخي کې د غـازي ابـاد کوچیـانو سیمه کې په ټاکنیز مرکز کې دننه چاودنه ترسره شوه چـې لـه املـه یې مرکز تخریب، او د رایې اچولو چاره پـه بشـپړه توګـه لـه منځـه لاړه.۲۸/۹/۲۰۱۹

کابل ښار ۷ حوزه کې په ټاکنیز مرکز غبرګې چاودنې وشوې

د کابل ښار، ۷ حوزې اړوند سیمه کې پـه یـو انتخابـاتي مرکـز دوه غبرګې چاودنې ترسره شوې چـې لـه املـه یـې هلتـه ولاړ خلـک وتښتېدل او مرکز وټړل شو. ۲۸/۹/۲۰۱۹

کابل ښار ۱۶ حوزه کې د ټاکنو په مرکز چاودنه ترسره شوه

د کابل ولایت د ۱۶ حـوزې اړونـد خدایـداد سـیمه کـې د جعلـي ټاکنو په سایټ چاودنه ترسره شو، پـه پایښـه دښـمن تـه د اوښـتي زیان په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي.۲۸/۹/۲۰۱۹

د کابل ـ پروان لویه لاره په سالنګ تونل کې وټړله شوه

د کابـل او پـروان تـر مـنځ لـوی سـړک د سـالنګ پـه خولـه کـې مجاهـدینو د هـر ډول مـوټرو د تـګ راتـګ پـه مـخ بنـد کـړ. ۲۸/۹/۲۰۱۹

۲۱مه حوزه کې انتخاباتي مرکز باندي چاودنه ترسره شوه.

د کابل ولایت مرکز د ۲۱ مي حوزې اړوند پولچرخي د غازي آباد د کوچیانو سیمه کې په انتخاباتي مرکـز کـې چاودنـه تـرسره شـوه، چاودنه کې مرکز

تخریب او د جعلي ټاکنو پروسه لـه خنـډ سره مـخ شـوه. ۲۰۱۹-۹-۲۸

د کابل ښار ۱۱ حوزه کې د رایې ورکونې په مرکز کې چاودنه شوې

د کابل ښار په ۱۱ حوزه کې د انتخابـاتو د جعلـي پروسـې د رایـې ورکولو په یوه مرکز کې چاودنه وشوه، په چاودنه کـې دښـمن تـه د اوښتو تلفاتو په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.۲۰۱۹-۹-۲۸

پغمان کې په ټاکنیز مرکز کې دلاسي بم چاودنه شوي

د کابـل ولایـت د پغـمان ولسـوالۍ د خواجـه لکـن پـه سـیمه کې دګـونډاګی اداري دجعـلي انتخابـاتو مرکـز بانـدي دلاسي بـم چاودنه وشوه، په پایښه کې د ټاکنو بهیر ګډ وډ شو. ۲۰۱۹/۹/۲۸

قره باغ کې د جعلي ټاکنو په مرکز چاودنه ترسره شوه

